

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# وړانګه

یوه وړانګه په لاس ورشي
آدم ولاړ شي قدم وړاندي
بیا پیړۍ په ځای ولاړ وي
او تیري وي لاندي باندي

ګوهر رحمان ګوهر

PROPERTY OF ARIC Established 1989

(c) ketabton.com: The Digital Library

دکتاب نوم : ورانګه
ویناوال : ګوهر رحمن ګوهر
دچاپ کال : ۱۹۸۹
خطاط : نورالدین هنریار

بسم الله الرحمن الرحيم

په ویاړ
د هغه ټولو مړيالو
چې د بنيادمو د حقونو ځنې
تبځندي د پښو ځولاني او د -
لاسونو ولچکونه پرې کوي او دا
رنګ آدمزاد خپل قجير قامت
ته ورجګوي او ژوند نور
غوځانګن کوي.

PROPERTY OF ACKU
7550

څوک يې ولې خپل قسمت کړي
کومه ورځ چې نور(۱) بېدی شي
ځان په بنش ولې ليکه(۲) کړي
چې په شتوکې اودرېدی شي
څه په سر آسمانونې يې
که آسمان ځمکه کېدی شي
په مټ څه لره سر په ده
چې په مټ نه رغونېدی شي
په خرډک(۳) دي ولې سود(۴) شي
چې په خېز نښترېدی شي
د پېږو(۵) تل(۶) ته ولې پلی(۷)
له بريالو چې ملېدی(۸) شي
د بازادارهنر دي نه نه ده
که نه يې چتي بازېدی شي
ليت او لار چې د مېړه وي
فطرت ټول ولجه کېدی شي

---

۱- نوربېدل = بدلېدل، ۲- ليکه = حساب، ۳- خرډک = يوبوټی، ٤- سود = مطمئن
۵- پېږه = ماتې خوړل، ٦- ټل = ډله جمعيت، ۷- پلتل = يوځای کېدل، ۸- ملتل = ملګېدل

که سوارۀ لوی فرعونان دي
که کلیمؑ شي کوڼېدی شي
د بري لاري بند نه دي
که له سره څوک تېرېدی شي

لوی کتاب د میړښکارانو
ګډ په وینه کې د ځانان کا
بیاد ختوکوګوشتان ټول
الوتونکي باتوران کا

د کلیم دودونه خپل کا
ړانسکوره زورجهان کا
پرېباسلی او نتلی[1]
د دوران قهرمانان کا

هغه څوک چې میړه خېل دی
ټینګ په ننګ او په خپل خېل[2] دي
د زمرو مارتې[3] یې ژوند دی
چې د شنوزمرو د سېل دی

۱- نتلی = ناتارشوی، ۲- خېل = هوډ، ۳- مارتې = ښکار.

ترمې وينې دى سکروټې
ترمې وينې هم رامبيل[1] دى

دخپل تنګ دي پاتې شوي
په کولند[2] دى که په بنکېل دي

رښې خښکه بې کوندې[3] شي
چې ځانګې[4] همه رشپېل[5] دي

دا طبيب به دې ښنګ روغ کړي
چې يې چارې دشاخېل[6] دي

چې د دروزې[7] يې تنې وي
په وينو پرانه غلبېل دي

چې جامه يې کاسيرې[8] وي
څه په چېل[9]، څه که بې چېل دي

د باتور انګې[10] ورو ستې ده
مشرې که په چارخويل[11] دي

---

۱- رامبېل = يوګل، ۲- کولنه = کټخه چې دغوېي، څاروي څښتن يې اچوي چې د آزاد ګرځيدو نه يې منع وساتي، ۳- کوندې = کا ټې کمتې - خلپل، ٤- ځانګې = دې غابنې ٥- رشپېل = چې دغلې رښې پرې بادوي، ٦- شاه خېل = چې شاه خيل کوي يعني خرمنه شخ شخ تسمه تسمه کوي، ۷- دروزه = دغنمو ندې - تيلى، ۸- کاسيرې = بد لمنې ۹- چېل = پرونې، ۱۰- انګې = يوه لوبه چې وايي انګې انګې مل دى څوک دى ،
۱۱- چارخويل = قرقره

نه د دین، نه د سا[1] دین دي
خوار متازه د سوئیل[2] دي
شاید بیا خلیل زرغون کړي
"مومنان" تول آذرخیل دي

کلیمه لویه کیمیا ده
لا ناپوهه پر دنیا ده
ژوند په هر اړیکی وي چي
کلیمې ته یې اړتیا ده

د جهان د سمام[3] پیټې
وړې تندي باندې مېړونه
د ملځي نه کله کېږي
د باتور، د باز کارونه
ننګیالي په دار بر سېره
غوړوي خپل منبرونه
په پاڅون چې "زه یم" نه کړي
خوشې پوچ هغه مونځونه

---

۱- سادین = اړولی خمکه، ۲- سوئیل = دریمه نړۍ، ۳- سمام = بندوبس- توزیز

په جرګار چې لرو بر کړي
بلالي رض هغه بانګ[1] ونه
چې دا ځمکه د خدای کور کړي
دي هغه د ښتن ملونه

ننګيالي دي شاه ميړونه
لکه حق يې کړ ورړه وي
د ننګيال په مټ، په توره
دلته ارد ښتن کړ وي
خولې ماتې په فرعون کړي
د ننګيال د مزري زړه وي
تور ښنګلونه[2] خوندي وي
حق ننګي يې غرين کړه[3] وي
ساه يې واچوي جوش[4] کي
له پيړو پيړو چې مړه وي
د ناحق ورړه[5] بتول پړه کړي
ورړه هغه کړي، چې تل پړ وي

۱- بانګونه = آذانونه، ۲- تورښنګلي = باطل کاره، ۳- غرين کړه = قلا- سنګو
۴- جوش = تنه ، ۵- ورړه = بريالي .

د کیدړې په اوږدو نه شي
چې په غرمب دښتو زمرو شي
په تسپو مو سلو نه شي
چې په تورو، په نېزو شي
په منبنتو[1] نه سودېږي
چې په وینو په خولو شي
چې د باز شوخي ته اړ وي
هغه څنګ له تو تکو شي!
ننګیالي یې شي کوځي
چې په دار، په غرغرو شي
د تاریخ بهیر کړولی
کله څوک بې هوډه یالو شي؟
دا اسمنو چارې کله
د نارامو[2] په لینګو شي
دژوندون د میدان ګټې
په ډال غاړو توریالو شي
د ځیرک میړانه کله
له درست کلی د ړندو شي

۱- منبنته = زیارتونو ته دوړو دپاره په ځان څه منل، ۲- نارام = ناغیږ-ناراست.

چې رنځور باویړي[1] وکړي
پوچې هیلي د داروشي

آدم وګوره ای مارکسه!
کله بې سود په کورکوشي

د ځانګو د کوچنی نمرۍ[2]
پوره څه رنګ په ځلموشي

چې د نمرد روناوي وي
رون به څنګ په اورکو[3] شي

عقل څه خوني اتي دی
راسوری[4] په خپلوملوشي

د څیرک سر پوره والی
د حریي په سیپاروشي

○

چې له مال خبره واوړي
پت په سربانديپاله شي

کائنات چې په منګل کړي
داسړی سرې باله شي

---

۱- باویړي = بابیړي = دناروغي بیا تاندیدل، ۲- نمرۍ = جامي، ۳- اورکی = اوربلکی
٤- راسوری کیدل = راکرځیدل - راخلاصیدل - راختل.

لوټې نه تلي صبا څوک
هم يو «زه يم» به ناله شي
ښکلي هغه چې ښېوه (۱) يې
يو د «زه يم» په پساله شي
زه يم هر کله ځلمی دی
دې وجود چې زوړ ځاله شي
هغه ورځ به ستر سحر وي
چې دا ځمکه يو کاله (۲) شي
په يو لوی سين کې غرق لی
چړې، چړ، لښتې، وياله شي

دکتاب حد ماتي مه شي
هره لاره چې تړې
چې د ژوند د خيره نه وي
ورانوه لارې زړې
حق به هله ميشته وکا
لومړی غير چې وشړې
يا سړی ياد څړی شه
حق ناحق ولې ولړې

۱- ښېوه = ډول - ښايسته والی، ۲- کاله = کور

زبیښاکیان چې له مینځ ورکٔ شي
پړکني به شي مړي
لوی آتیان لکه اوکر(۱) کړي
د جګ غر تېږي وړې

ستور څارکو دواړه کسي
په څار لوکړل تنهاکې
نړی وټ یې چرته بیامونډ
برد ستورو په دنیاکې

له کاروبو او له ښکو
سره زر وښکل کیږیکرو(۲)
الوول حق وناحق دی
څنګ تر اوسه ستړکورو؟

د بوذرؓ د کندي خلق
د آذرود کندي دي
که هر څومخ په کعبه دي
له بتانو پیوندي دي

۱- اوکر= د څارووڅورلونه وروسته پاتې کېدونکی ګیاه یا تاڼتې، ۲- کیږیکرو= کیږی کوونکی

جوړوي د ښيښو مينې[1]
ځيرکان خوښيبه کړوي

دوختونو په ناتار کې
چې يې وکوري د بړ[2] وي

○

دوجود نيستي بلا ده
پرې له ښوختمارکسان ژاړي
سر نيستي ده د نيش[3] "زه يم"
دوه نيستي کليمان ژاړي

○

رغانه د توکو توکو
د صورت هسې د وړېږي
ولې "زه يم" يوتوکيز[4] دی
يوتوکيزی نه نړېږي

○

حيواني وجود د څه دئ؟
دحجرو[5] الوولتيا ده
او حجرې د خاورين توکو
خپل ترمينځه انډوولتيا ده

---

۱- مينه = کور، ۲- دبړ = سنګسار، ۳- نيش = ناشته- نيشت، ٤- يوتوکيز = ديوتوکی نه جوړ- چې کډونيزه نه وي، ٥- حجره = Cells- ژونديکی.

دا خاورینه واړه توکي
د بریښنکو غوښې دي
او بریښنکو ته چې څیر شي
تشي تر قنده څپې دي

○

دین همه واړه سره زر دی
مذهبونه ټول زرنیخ
دین ژوندون کاندی غور ځانګه
مذهبونه یې چار میخ

○

ګرلاسی کندوان یې ډک شول
چې جَب جوب شول په خولو کې
ځار له هغو توریالیو
چې په خېټ دي سرخیړ(۱) وکي
غوړه(۲) ټوله دې په ځان بده
تش لمن که یې پسرلو کې
ساده ګوري ملغلرې
خُسا ډنډو کو، خرخوړو کې

۱- سرخیړی = سرپړه، ۲- غوړه = تومت- ګرم والی - ملامته

دا چې ګوابښ په سترو کېږي

ته هم زاوره څه نېږدې کې

څه ناویاته چاره وکړه

مېرنیه! په تلو تلو کې

کوړېیمار[1] چې د بمبل وو

هغه سر په مُونډو[2] دی

کړولی[3] چې د باز وي

پهلولکو په شوغو دی

چې د برید اود غدې وُ

د تسپو د موسلو دی

چې جړګې پرې ښایسته وي

هغه شرم د جرګو دی

چې ښتن د لوی اخور وُ

اوس د پوچو کسبېدو دی

د تیرو تورو بُور[4] کې وُ

د بې سترکو د کنډو[5] دی

---

۱- کوړېیمار = دا تمان د مخې په لوبه کې په بمبل (په سرکې) د کوړې (حلقې) د ننه تګ ویشتو ته کې

۲- مونډه = د مخې په لوبه کې په بُت د تیلې خښتې نه ښکته وچې کښې لوېتی، ۳- کړولی = د ښکار ځیر کولو، ښار لوډ پاره د باز تاویدل راتاویدل، ٤- بور = زمری، ۵ = کندی = چم، محلت.

## د قرآن ځني نامـيـنده
## څه دخوشو عقيـدو دي

بازداري پولـوي هـنر دي

ته په يو بيله[1] بازداري
چې نه لـري جـمـ ـپ
په نامه باندې ميشکاري[2]
تش غرُ بازو وته ناست يې
څه که ځوې دلوي بلا ري
ته مير ښکاره کرې غـواړي
په ښه ښه مـرداري
يې په تومنه له و يـارلو
خو په چاروکې د وياري[3]
له قـرآن په غـير هـذا
بې صلوٰة مونځ گذاري
کله سر کړيوان ته کـوز کړه
چې داولې دومره خواري؟

1- بيله: د څرمنې لاسمه چې د باز کښېنولو د پاره يې لاس ته اچوي، 2- ميشکار: بلزوان، 3- ويار: شـرم.

چې ټول نه قرآني وي
دا سړي به شهسړي[1] وي
دا تنزري تاروکي به
بیا بازونه وهندي وي
دا پربوتي، دا اِنسټ[2] به
بیا ښستري آسماني وي
چې نومړي په قام قام دي
بیا به ټول یو آدمځي[3] وي
د ننۍ شخولې[4] او کاټي[5] به
صبا توري او توبري وي
په ونډه[6] ځمکې د ننۍ به
نه ځمکوال، نه شیخ ملي وي
نه به پولي، نه بیلتون وي
نه نهیا، نه زمایي وي
یو آدم، یو آدمتاله[7]
په کسن رنګ به یورنګي وي

---

۱- شهسړی = سترسړی، ۲- پربوتي اِنسټ = بوټتی دی، ۳- آدمځی = د آدم زامن، ۴- شخوله = درسته، ۵- کاټي = تیکی، ٦- ونډه = داسی حلال کړی څلروی چې پکي خلقو برخې (ونډې) ملستې وی، ۷- آدمتاله = ټولنه چې پکي د ځمکې ټول استوګنې (ځمکزی یا آدم زی) راټول وی یا سره راټاله وي

آدمخوني[1] به یو کور وي
وران به کور کې کور کې وي

درناوی به وي په جسو
سپکاوي به بې جسې[2] وي

نه مړی نه به خښتن وي
نه به غټ، نه به نري وي

نه کاواک، نه به بې واک وي
چې الله به ټولواکې وي

ټولنوال به ټولنوال له
رب، رحیم وي، او ولي وي

هم به یې کسب خالقي وي
هم توره[3] به یې رازقي وي

وی پاخون لکه یو تن به
یو تاله به مختکي[4] وي

له ختیځه تر لویدیځه
به یو ستره وروري وي

په حدونو د کتاب کې
به د عقل خپل مخي[5] وي

---

۱- آدمخوني = ځمکه، ۲- جسی = ورتیا = اهلیت، ۳- توره = قانون - تره - ترلې لاره، ٤- مختکی = مخکې تګ، ۵- خپل مخي = خپلواکي - آزادي.

سین، د غاړو په درښنت به
تل تر تله غرځنګي وي
یو ځاریږي به له ټولو
ټول له یوه به لوکي وي
له قبلو دي ګډو وډو
به یوه کعبه موندي وي[1]
له زړها اور اورکو به
د حرۍ یو رنهایي وي
سرې ټول به سره سیال وي
په فطرت[2] به یې ستروا کي وي

ستا خیرې د رست کائنات دی
ته لا کوز په خرخشو[3] یې
پولې پولې ده لا ځمکه
خپل ترمینځه په دښنو[4] یې
ژوند له تنه ګډو[5] نیز دی
ته ځان ځانې به ترخو یې

---

۱- موندنه = راکښل ناوی - د غوبل د مینځ غوږي، ۲- فطرت = نیچر، د بنیا دم نریتر نور ټول کائنات، ۳- خرخشې = جګړه، ٤- دښنه = دښمنی، ٥- ګډو نیز په ګډه هستیدونکی.

ځمکه یو کور ځکه نه شه

ته ترڼن د کورکوي

یوکورمه[1] واړه آدم دی

تن په قام، په قبیلوي

د یوې حجرې زېږنده

د حجرو په بیل کلوي

○

کړه بنا یو آدمتاله

وران کا پولې سرحدونه

د خپل تن حجري کا ټولي

دا خواره واره قامونه

ستا مرام یو ورورولي ده

نه ملګري ملتونه

یو بیرغ په ځمکه جګ کا

کوز کا واړه بیرغونه

دا وسلي د مرګ لاهوکا

سُر د امن کا تارونه

پدې ځمکې ـ آدمځوني

بیا برسیر کا جنتونه

---

۱ـ کورمه = کورنۍ.

یو کتاب دی سرتوره[1] کا
نور و نغاړه کتابونه
بیا آزاد په آدمزاد کا
پارچاو[2] شوی نعمتونه

زول چاپیره سور الوزي
د وېزاره راپرېوځي
له دې چې قند ناتار به
هم پاخه بښختې وځي

چې د ژوند ځله یې مړه شي
چې یې ساه دلینګو وځي
راخوړه شي پرې دلوړو
او ربه خوله ځوځي ماځوځي

د قرآن دعوه خو داده
چې مؤمن په هرچا بردی
دعوه کېږي د کتاب کوره
د همه قامونو لړ دی

۱- سرتوره = د سر قانون - اساسي قانون - بنسټیز قانون، ۲- پارچاو = ډب - بند.

○

د زرداړو په ټټــولــنې

دي ګټونکي په بایلــــــنې

د شته منو شته مني ده

د نیستمنو له نه بیښنـــــې

د ماړو کوښي[1] جوړیږي

د تش[2] بانو له څـــرمنې

د زردار مـــاڼۍ ولاړې

د کارګر په تـــنې پــلنې

د ډک[3] لاس سپینه جامه ده

د تش لاسو په ریمــــنې[4]

بده ورځ د لـولنــګرو[5]

دا زل نه دی لیکــــــنې

د باطل تـولنــه پایـــي

د مذهب په سروینځــنې[6]

---

۱- کوښي = پېزار، ۲- تش بانې = نیستمن، ۳- ډک لاس = چې لاس یې ډک وي
٤- ریمنه = خیرنه - خیچنه، ۵- لولنګر = بې ځمکې - چې ځمکه یا دوېتس
نه لري، ٦- سروینځل = ملاتړ کول - پلوي کول.



٩

○

وګړي ټول که آذري غواړي
ښخښتن له تا نه خليلي غواړي
د فرعوني سپاره کوزولوله
واړه وختونه کليمي غواړي
په تشو ټيکو له کتي کيږي
دننګ ډګرله شه حلمي غواړي
وګړي ټول سرړ قوي او پايي
حق د ميړه غوندي ښوندي غواړي
ښکيلاکي عمر د ښاروودي ګوري[1]
ښوندی آدم به مخ کښي غواړي
دا باسين خونړي نيزاو چلي[2]
د جاليوانو سرهنګي غواړي
په هسک اوتل د حقيقت لټول
تل سربېري لېوني غواړي
چې د ښخښتن لاره د ب کولی شي هم
ښوندا سي زين او هک سرې غواړي

---

۱- وګوري = خبردار ، ۲- نيزاوچلي = سيلاب او چپې.

○

دهڅګ قامونو په خرخشوکې

واړه قامونه بې هیڅه دل شي

دمیکیاولي د شهزادګانو

په ژمنو خپلو کله عمل شي

خپل کندکونه به پرې ناتار کړي

ګډې که نتولې زمري ته تهل شي

غښتلي متې دځان کلا ده

کمزوري متې دځان اجل شي

که سر ببري هوډیالي پاڅي

په ریږکو[1] به داهګ بدل شي

○

چې دحق سره په لار دي

لکه حق هسې بې څار دي

چې دحق دلارې بېل دي

په دنیا، په آخر خوار دي

یو ویاړلي دحق رنګ دي

بل هر رنګ آخر دوییار[2] دي

---

۱- ریږکي = کوچنی - وړوکی - ناشی، ۲- ویار = شرم - پېغور.

چې تيغه[1] کې حق ته و لاړ دی
د خدای هغه څوک پکار دی

د خپل "زړه" نا روزونکی
خپل ځانی په ځان ناتار دی

د مېړونو مټ که ګوري
ګل ورين هم تن د ر چار دی

په توله چې د ټول ژوند دی
حق، او ښکلی هغه کار دی

چې د خير د آدمزاد دی
نو په خدای هغه مختار[2] دی

چې ناسور په مخ د ځمکې
شېخ ملي وي دا دوترې
آدمزاد به دوه تپې وي
لرې برې نورې لرې
د ټولنو د لړمون به
زړينې لوږې او نهرې

---

۱- تيغه = برش - کږوږه - نقش -
۲- مختار = رویدار - دروند.

شی ځورلی خلقی به
بې دولیتي[1]، یوه ځري[2]
درپه درخاوري په سر به
پرکښي وي لولنګري
د ټولنو لو ښار ور دا —
خپلو بدوله اشري
عقوبت په غرغندو شي
چې دکیا[3] وي اورد سري
تالهټک د ادم اړ دی
په یو ورځې برابري
چې پرې دروي کائنات ټول
ستا هم هغه لار مخبري[4]

○

PROPERTY OF ACKU 7990

داچې ځان خانتوره[5] بولي
داچې هرچېرته شمله دی
نیسمنان په کمند[6] نیسی
وایي سپک دی ارکجه دی

---

۱- بې دولیت = چې دوله نه لري، ۲- یوه ځری = چې یوازې وي، ۳- دکیا = چې لوګی کوي،
٤- مخبری = په بر مخ، ٥- خانتوره = خان چې تر ټولو پر انستل کوي چې د توري خان وي،
٦- کمند = کم ذات - کم اصل - کم سیال

له ازل، وا یې برېیال یو
نور په برخه شاګند دي[1]

دوی له مخ د خدای په رغ[2] دی
نور له پښو یې زیږ نده دي!

کومه توره یې د ازل ده
چې شتمن داسې پوره دي؟

د نېستمنو کوم ګناه دی
چې نیمګړي، نیم کوره دي؟

او په هره یو ټولنه
پوځ، پرېوتي او روړه[3] دي!

که د اصل کړې پوښتنه
آدم زی ټول یو حجره دي

له یوې حجرې راغلي
قام، قبیل، تپه تپه دي

لوړ، ژور دی له زبېښاکه
شته په نیش[4] آلوده[5] دي

د بې وس د بې وسی نه
وسمنی را زرغونه دي

---

١- شاګنده = چې شایې لګېدلې وي، ٢- رغ = جوړ، ٣- روړه = تباه.
٤- شته او نیش = شتمن او نیستمن، ٥- الوده = ښتې - اخته

لہ شتہ منو غلچکــو بیا
مذهبــونــہ بدرګه دي

دفــرعــون دکـــور د نشــه
پہ پاځون آخرمـوسیٰ[ع] شي
دباطلو بناماران تــــول
تاروپتاري لہ امسا شي

○

عقل لیت دی، دیــوکی ده
پري قدم قدم رونــیږي
کلیمہ هغه شهٔلیت[1] دی
چې ټول ښروند پري جـوتیږي

○

دآدم د شــــاه ځا منـــو
توري هرکلہ ښروندی دی
د وختونو پہ آســمان یې
پہ ځلا ستوري سپوږمی دی

○

د زړو پیړو کاروانـــه نه میږونہ بہ بیا بیا کــړي
شاه میږه کــړي هغه چاري چې پیړي پس یې دنیا کړي

---

۱- شهلیت = شه + لیت = لوی لیت.

○

چې په ځان پلن[1] سوري نه شي
ټول جهان په ځان راتنګ کړي
له کونړه چې دمه شي
هغه توري نېزې زنګ کړي
هو دیالي نېزه باز کوړه
چې په ماته نېزه جنګ کړي
له یوې بلې تېرې ته
د زرګي[2] زمري غوځنګ کړي
چې د مرګ په طلب نه شي
ژوندانه ورځنې څنګ کړي
ننګ په حق با ندې کوونکی
لکه ځان با ندې چې ننګ کړي
رنګ له حقه ځنې واخلي
بیا وریا ټي جهان رنګ کړي

○

کلیمان د ژوندون لاره رب د ستړګو کې په ډک کړي
ځیرکان یې په لیتون کې ترعمرونو سر غونډ کړي

---

۱- پلن سوري = په پسارو پلن، ۲- زرګی = پرهلر زلی.

○

دی پکار څه رنګ اړیکی
د آدم له بل آدمه ؟
دغه لویه کشاله ده
او د ژوند لویه کرمه

○

آدم دغه قدر نه دی
انجربنجر[1] ژوندینکی
یو مونډی[2] زه یم او ده دی
د بدلون پدی ځانډره[3] کې

○

که آدم بې پوښه نړی
څه پیرمخی[4] رغانه وي
په ناتار د مرګ صبا به
میراث مرې هدایره وي

○

د بدلون پدی ناتارکې    هم یو زه یم « دې څوندي دی
که صورت دی یواړتیا ده    نو دا « زه یم » دی مونډي دی

---

۱- انجربنجر = الوول ، ۲- مونډی = راکس ، ناوی ، ۳- ځانډره = هستړ- فریم سکلیت ، ٤- پیرمخی = پیرخوړونکی ، بدلیدونکی .

○

پیر خواره[1] یې له پښو یو سي
چې موندلې یې وي اومړې[2]
د کچه به «زه یم» آدم وي
خپلو نغوتو[3] نه باد وړي

○

د آدم له «زه یم» پرته
نور هر څه چې دي نور پړي
له هر زبرپړي[4] د جرې نه
لکه ځان هسې راز ببري

○

هم برحق هغه ژوندون دی
چې د «زه یم» په غبرګون دی
که وجود دی که ستولنه
کار د «زه یم» یې پاڅون دی

○

چې د «زه یم» په شړنګ نه دي روزنګرې[5] د بدلون دي
د جرو په کچ کې اوسي او دستر کوتش الون دي

---

۱- پیرخواره = پیوخوړونکی، ۲- اومړې = اوم، ۳- نغوتې = جذبات - غریزې.
۴- زبرپړی = هغه څه چې زیب ول کوي، ۵- روزنګرې = روزنه کوونکي - لویونکي.

ټول فطرت يې خوري تاليزه[1]
آدم نړی جدا جدا وړي

د ځاني سود غم خوړونکی
له حق لاري پښي پښا، وړي

چې په نورو خپله ويش کړي
خپلې برخې نه سيوا وړي

چې مشال نورو ته جګ کړي
خپلې مخې ته رڼا وړي

ژوند او مرګ يې دواړه ښکلي
د ځورلو چې دعا وړي

چې له خپل ميړه آګاه وي
د بشر درنې په شا وړي

اوښتون[2] د ژوند جامه ده
چې شي لټ، په هغو واوړي

۱- تاليزه = په جمع - تاله.

۲- اوښتون = انقلاب.

○

دژوندون په لویه لارکې

مشالونه بلول دي

د تیرو په تورتیپونو

لښکرونه خېژول دي

کتابونه د بېرد جهل

سوزول او بډول دي

د آدم نه دېر یادکړي

د عمرونو هېرول دي

که مذهب یې هم سړوینځي

چې باطل دی نیشکول[1] دي

که خوندي دي په کعبه کې

چې بُتان دی لړول دي

په هر پل د پرمختیا کې

برابرا[2] شوي غورځول دي

چې ښکېل شوي په غورځنګ شي

ښکېلکونه یې غوځول دي

---

۱- نیشکول = ورکول- په نیش لګول.

۲- برابرا = په پلنو ولاړ.

د سنډان تندي به چېرې کرو نجی نشي
د درنده وپلکو نوجو رکه پرې نا نا روي

د مېړه نيستي يو څوو رځې نيستي وي
نه مېړو شاعري نيسمن او خوار وي

د رند و عقيدو خلقو کې همېش له
ښښتنان د غرېدلو به په دار وي

چې باز و نه يې په لاس کې چتي[1] کېږي
ځان به وپو ښتي چې د اغرنګ باز دار وي

چې توره[2] د حق ملا[3] نو خپلوي څوک
يو قدم يې په چاپه ، بل په انکار وي

خپلې سترګې غړولې ورله بويه
که رښايي لار ليدلو له پکار وي

د رباب خوارېږي نشته آدم خانه!
ښايي خلق چې له ميلسه[4] دې ويزار وي

---

۱- چتي = ورکوټی مرغی

۲- توره = قانون - لاره - منه

۳- حق مل = د حق ملګری

٤- ميلس = مجلس

ننګيالی نه اخلي لاس له خپله ننګه
ابا سين کله ښنه نيسي له غور ځنګه

چې تر ځود ظالمانو نوغی شته دی
حقملان راپستنه شي څنګ له جنګه

پوهکړي د بې پوهو نه قلنګ خوري
او تول لاندې دکليمو[4] تر قلنګه

چې يې مټ د غليمانو وي کتلی
نه ويريږي يې له تشه ډنګه د ننګه

د مردی توره ميدان کې لا ښنه کيږي
خلاصه نه وې د کاټی[1] توره له زنګه

پخپل زړي کې زرغون شه او سمسور شه
څو دې نه ده لا کوټی[2] خاورينه رنګه

چې يې جس د تن په مور کو په پټ واوري
خود ځغه ته وي کړنې د جهان تنګه

---

۱- کاټی = ټيکی - چړټون

۲- کوټی = د دانې کڅوړه

يو بري د يو جنګ غالي دی خوندي که
بيا په بل ميدان بريښنا او تالندي که
چې د لوی ښتن د لاسو سره ښايي
شاځلميا! ځان په داسې کاربندي که
په حجرو په جماتونو کې تورتم دی
د ډيوې غوندې لنبه دې په تندي که
د ميړه د څوی آواز له خلقو بېل وي
څوک به يې څنګه په ټولنه کې ګوندي که
چې د خپل عمل لاره[1] سترې کړل
څوک به څنګ هغه وګړي راژوندي که
له غوجلې د څاروو به څنګه وځي
چې په مينه مينه څټ ته غړوندي که
چې يې وېره د ځوروني له چا نه وي
هغې پاڅي بې وسان په ډاګ ګوندي که

۱- لاره = لور

خپلې غوټې ته دغاړې
له خپل تنه پلواښنه[1] شه
د ټپاندهٔ اباسین خپل
لکه غاړې په ساته شه
دکړیږ سختې په ځان کړه
پسته باز په الواته شه
په خپل ځان قید ونه کېږده
زرغونه شه او بیا شته شه
پولې ړا ښکه ، پانګې[2] کېږده
بیا په زغاښت لکه میږه شه
د څښتن د لارې مل شه
له څښتن ځنې لاړغه[3] شه
په ریبلوچې ورک نه شي
په لوښه[4] لکه واښه شه
دختیځ له الا الله -
لا الله د پرېواته شه

---

۱- پلواښنه = مرورې - پلګواښنه ، ۲- پانګی = میږ- ډک - مرام
۳- لاړغه = لرغونی - وړاندې ، ٤- لوښه = خصلت - خوی

○

په ټولنو لیوګان ګډ دي

هر وګړی لوی اوګړ[1] دی

لولنګو څکه په نیش دي

درناوی چې په دوستر دی

ټول په تومنه آدم زاد دي

څوک تاله، څوک تالانګر دی

چې درنه ډله[2] یې مله[3] ده

د هغو سوی په سر دی

داکندی دی د بې ننګو

څوک یې موږ، څوک یې نهر دی

هر ټولنه پانګه واله

د ځان بدوله اشر دی

عقوبت به غرغنده شي

داچې نن ډګیا[4] سوسر[5] دی

---

۱- اوګړ = اولال، ۲- ډله = ګوند، ۳- مله = ملګری، ۴- ډګیا = لوګی.
کوونکی، ۵- سوسر = د ډېرو سپیاکو او د چې نری نری لوګی کوي.

چې ژړانه ښکي بدې مې
وابه نه خلې تورې څڅې
په ګڼو نوې پسرلي شي
چې څوک ونغري سکروټې
خپله ګټه دې نن څه ده ؟
چې ستایې د نیکه ګټې
د یوه ماته، باقي سوي
د تور ګټ سوی دیوټ یې
نه نښتر او نه چنار شوې
څه د تورو خاورو خټ یې !
دا میدان د تېرو تورو
ستا مصرې تورې دې سمې
چونکه ایره یې پاتې شوې
وې انګار د درنې ستې
حق ننګیالو ته وریتېږي
د بې ننګ هر کله بتې
لات منات چې ګڼداري څوک
شي په خپله یخې ګټې

خوړي، ځکه شوي، خيالي نه شوي
د «لا» شي ځنې شي نه شوي
د جس ترغې نه نا مينده
ټل نچه شوي کني نه شوي
تشه شخوله - خالي تيکې
بمبل توره، توبرې نه شوي
له حجرې تر سرې راغلي
لاپه «زه یم» سرې نه شوي
له مذهب چې ملستل دی
لدي مرېيني ژوندی نه شوي
انځاره کې چې دی پروت دی
هغه ستر آدم زی نه شوي
مسنکيرې درته آسمان دی
ځکه باز، باتورزي نه شوي
هرآدم چې دی فرعون کړ
يې بلواك، ځانوکی نه شوي

---

۱- انځاره انځور- زړی - نقش
۲- ځانوکی = ځانواکی

د وګړو سالار پړدی
خر سواره چې شاهسواران کړي
د کوڅو لارو کسو دري
ځلن ستوري د آسمان کړي
ګوګوشتان د اومو خټو
سندان سري اتلان کړي
لوړ او کوز سره یو سیال کړي
اړو پیچ واړه یو ځان کړي
چې سړي یې نه سړي کړل
راغوزار هغه بُتان کړي
د لالونو په ځلقولو
د مشکنو بازار وران کړي
چې جس من پکې قدرېږي
راد بر هغه دوران کړي
دا د نوم مسلمانان ټول
په رېښتیا مسلمانان کړي

۱- اړو پیچ = خپلوکې په ضد ضدی - په غوټو پړو.

په میروکې د ښکلونه راټوکیږي

سره پړوینو د لاله بڼکې جوړه ده

ننګیالي دي چې د لوی ښښتن په تاریږي

پوره ټکرې د نړۍ تول لې بار[1] ده

ته تنزړي یې، د نیاده د بازونو

ډېرې ځکه ژوندون دی اداره[2] ده

غزا وشوه که په نوم کلیمه کوي

زرغونه دې له ژوند کومه کلیمه ده

هونیایی[3] په ټپوړوند دی، ښکاریږي

که نه یې نن هم پرته هغه د وګړه ده

دګزی[4] غشی دې هر وختې په سر دی

په دیدوان[5] باندې دې اره پړه، وره ده

صبا راښکه د شولان ګټو ته منتې

که دې نن ګټلی قام لره اوګره ده

---

۱- باره = مسئولیت- ذمه واري- پړه، ۲- اداره = وړانه- ګټې- لوټې،

۳- هونیایي = ښکاري، ٤- دګزی غشی = دوړې پرې ګوزار،

۵- دیدوان = شیش- ځیرکونه.

لکه خلق هسې ټولنه
لکه کوږ هسې يې غار
لکه اوبښ هسې يې سوري
لکه پښه هسې پېزار
لکه باز هسې يې ماري
هسې باز لکه ميشکار
لکه ږيره لاؤڼ هسې
لکه سر هسې دستار
لکه توره هومره کټه
تَشه هومره ثومره کار
داوچت الوتو پانکي
د شهپرو په مقدار
د ډيوې رڼا تر کوره
نمر په ټول جهان اوثار
د بې ننګه په رنګ ډېر وي
ننګيالي نه لري سار
چې د لارې اوښکو نه وي
په هغو جوړېږي لار

لا بې ډېر وکړي ګاندي
یو منصور خېژي په دار
د بې متو وار ځنډېږي
د مټ دارو وي بې وار
د زمرو نه اخستلی
سورلنډی[1] شي کله ښکار
د اتیانوس باری وي
په ملخانو کړمار[2]
کلیمان نه شو ټول عمر
له خدايي چارو وړه ګار

مذهبونه دي پوچ شوي غربینونه[3]
مذهبیان د خپلي ماتي بیرغونه
د هغو د "راتاندون"[4] طمع عبث ده
چي مذهب يې رواښته[5] کړېدی هډونه
په هغه سالو چي ځان لره دوړېږي
دی عبث دانځوړ ونو کړاوونه.

---

۱- سورلنډی = ګیدړ، ۲- کړمار = يوغوږدی، ۳- غربین = یوټوپک،
٤- راتاندون = بیا راغبرګېدل، ۵- رواسته = وراسته.

له مذهب يې چې تودې وېنې کټکل شوې
مسلمان بايلل ملکونه سنګرونه

له مذهب ځنې لوی شرک په جهان نشته
لګولي يې په نيش دي استونه

د مذهب دغوندلانو[۱] تنستو کې
ګل[۲] ډيوکې دي دعلم د يوستونه

له مذهبه هک حلمي تول ريزکي شي
ريزکونه کله کېږي لوی کارونه

ټکی ټکی دکتاب نن هم هغه دی
خومذهب ترې نه وښکلی دی ساهونه

چې ترخو دغه مذهب او دا ملا دی
وي تالا به د تالا قامونو خونه

پوخ سنګر دی شاه مردی ده
توربازي دی تيغ بندي ده
له باطل دځان ژغورنې
يوه لاره ملا بندي ده

---

۱- غوندل = غټ غمی

۲- ګل ډيوکې = دګل ډيوې

له فطرته دي پرده ده

له فطرت دي سرزوري ده

کليمه دي سرتوب دی

سرتوب دي سرهسکي ده

د بل غم هم د ځان غم دی

دا پښتو، مسلماني ده

په ژوندی کليمه بيا خلق ژوندي که

دا له واړو وړستو شوي بيا لومړي که

دا چې خاوري يې له مخه نه چاڼړي

د سپوږمۍ په دود غونړي پړقندي که

ورونه ورونه سره غوښې په چاړه کړي

له ټولنيز ژوندونه وړکه کوند کوندي که

شاه ميړونه له زړګونو ستورو تير شول

بڼې راښکه خپل ملګري ګړندي که

د هغې بې ننګه خلقو مرګ روا دی

چې ګزران د بل په سوي کړپندي که

د پسرلي درنه وړځه شه په خوی کې

ځان وړښت، ګله برېښنا او تالندي که

شاه ځلمي چې د آدم په ننګ اوچت شي
«شاه پلکونه» بیا زغمل په ډال تندي که

○

د هندو خلکو لاس تپول نه ده
دستر کوه و کاګیره تلل نه ده
دا ایلتیانو(۱) کلي ورانول نه ده
د راسمانو یې سمول نه ده
که اوندي(۲) جوندي د دوپړک(۳) وي
د یکرنګانو غوښې کول زده
مذهب له ځایه راغورزول کړي
کتاب یې ځای ته برخېښول زده
چو رنګو رنګان هم کراولي کړي
لکه باز کله اوچت وهل زده
چې فرعونان یې موزي(۴) کران کړي
نو کلیمان یې تورنول زده
د آذرانو بتکورکي(۵) نړول
د خلیلانو کعبه کول نه ده

---

۱- ایلتیان = پساتیان - ورانی پیدا کوونکی، ۲- اوندی جوندی = مزغړونی چې غوښې رښې نه وي، ۳- دوپړک = دورنګ - منافق، ٤- موزيګي = چې د هیڅ بنې نه وي تش کټ پړي ډک وي، ۵- بتکورکی = بتخانه.

د باتور په څو شهپرو خپلولو
منګیرک او غلیواز نه باتوریږي
دیو بُت په لړېدلو بُت غلیمو!
سومناتونه په کعبو کې نه بدلیږي
له کیکره د نښتر پیوند خوړو کې
نښتر هیڅکله نښتر نه پاتې کیږي
چې په پړو کودې وژلي مذهبونو
هغه مړه په مذهبونو نه ژوندیږي
چې د زهرو ډکُ لښتي پرې راسواره وي
دغه سوي چنارونه نه تاندیږي
د قرآن واړه رښتلي عقیدې نن
د مذهب په کتابونو کې ساهیږي
د تیرو سره ملستې بنا پیرکُ نن
د دنیا په تکی مرګُ ته بېرېږي

شاه ځلمي دی نوی ځمکه آسمان غواړي
د زوړ شوي په ځای نوی جهان غواړي

د خپل "زه یم" سرهنګي یې سلامت یه
مریّیتوب نه - ملګري د یزدان غواړي

ننګیالو کړه غاړه ما ته اطاعت ته
په لټون که د هغه دي خوځان غواړي

په دنیا کې یو کار هم ناشونی نه دی
یومخیزی[1] ځیګروره ځوانان غواړي

کشالې غوښتنې نورې د آدم دي
ژوندانه نوی تفسیر د قرآن غواړي

په لښکو د لیښتینکو کښتې نه شي
د ژوند ستونځې مېړني قهرمان غواړي

په یو ماره که ګاوزشي، سود یې نه شي
چې ژوندي وي نوی ماري زمریان غواړي

---

۱- یومخیزی = چې مخ یې یو وي - د یوې مفکورې.

عقل هغه وهندی باز دی په لاس
چې د پر اوچت اوچت ښکارونه کوي
ښکته له ځمکې نه تر نمر، ستورتلينز(1)
کراولې کړي، يرغلونه کوي
لوګينز(2)، اوړيزه(3) که يې لاره نيسي
له الوت کله پرهېزونه کوي
رهبر، کړاو دی ټول دعقل چې نن
برېښن دژوندی تومن څونه کوي
دآدم کار دی کائنات پرنه ول
برهغه قام، چې دا کارونه کوي
چې په فطرت يې ده لتې اړولې
دهسکو ستر کو معاشونه کوي
عقل بهير کړ غور ځسنګی دشعور
وير ويراني ټول مذهبونه کوي
پياده له عقل کوم وګړي چې دي
دبل موټانه دي سوالونه کوي

---

۱- ستورتلينز = آسمانلاره - کهکشان، ۲- لوګينز = دګازو ريځ يا نيبولا،
۳- اوړيزه = هغه نيبولا چې ستوري پکې په زرغونېدو وي.

حق نه په ځنګې، فطرت په ترڅې
تشې ځاندې وي، زور یې او به وي
عقل یې شل وي، هڅې یې ګټه
په غنو کوري، ولې راندہ
نه پرې ودانه، که دوی ژوندي وي
او نه پرې ورانه که چرې نه وي
د ځوانمردانو دقط نه وځي
نه یې خوابه وي، نه یې تراخه وي
په شنې په "زه یم" دوارو نیستمن شي
ځواک ئې خساک ئې خوارو او ځسبه وي
په زارو شځوند کړي، نوی ترې نه شي
نوی برید و نه خو د میره وي
چې یې راغوند کړي وار و کرلي
دیوګنجکې دار نه ښت نه وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلسوکینو دلپاره نه

اوربین ستوري راغونځېږي

ستورتلیزي سروهي لا

کائنات لا پراخېږي

که یو ستوری ورژېږي

نوی سل راوټوکېږي

دښوندون زرغونېدو له

نوی ځمکی سادېنېږي

چرته ښوند دی په بخښنچه

چرته کچ، چرته ځوانېږي

د زرها ستورو میروکي

دښوندون غبږی غبېږي

یوه ستا دا ځمکه نه ده

چې ساه دارپکي هستېږي

شنخړي ځمکي بنکته بورته

ستورتلیزوکي څرخېږي

هغه ځمکه ستا دوتر دی

چې دي لاس ورورسېږي

عقوبت به له دې ځمکې
درته کېږي په سر کېږي

د مېړونو ستور بېړۍ دي
له سپوږمو ستوړو تاوېږي

د يو نوي کوږ لټون کې
د آسمان لارې چاڼېږي

عقوبت دا ځمکني به
ستورکۍ زو ته ورسېږي

د ژوندون څومره رازونه
به په ډاګه وغوړېږي

قیامتي[1] پاینده هغه اوښتون شي
لا الا سره چې کله یې برغون شي

د عبرت مرې یې کړې په ملکونو
کوم فرعون چې له کلیم په ستوربېښون شي

د اولس وینې رهبېنونکي هله ورک شي
دربریا[2] اولس چې کله په پاڅون شي

داو یار لې څلي هسې ولاړه نه دي
د مړدي کارونه ډېر په شواخون شي

چې په سین داوراو وینو شي وریږي
قافله یو قدم مخکې د ښوندون شي

که هر څو مره سنګرونه له ځان تاوکړي
عقوبت د ځمکې تبې هر فارون شي

چنیښني[3] عقیدې چې غاړه باسي
د هغو خلقو تول نه مرېستون[4] شي

---

۱- قیامتي پاینده = تل پائیدونکی، ۲- دربریا = خطر- نتلی- ځپلی،
۳- چنیښني = چې چناسکې یکې شوې وي، ٤- مرېستون = هدیره.

○

د دوران په زلزلو غړونه وار غږي

په شکلني ډېروکي څه له وياړېږي

تلناوونه يې رواسته، موږې خوړلي

چاړ کېږدي کې به تر څو پورې اوسېږي

د پړ نسبتر په چورلندو ځمکې له تللي

کڅه ډيلي! په خپل خېز څه غلطېږي

د سور سين چپې دمه وښکه له يادو

اى فرعونه! چې كليمؑ پسې پاڅېږي

د ملخ څانګ سړه دې ملا شوله دوه غبرګي

ته لا ځې د آتي بارته لاندې کېږي

لا اله بتکورکوته سنګر پوکل دى

که مؤمن يې ترو رستي بُت به جنګېږي

کلیمه یې چې په زړه باندې سنګر شي

هغه قام هغه وګړي او سپین غر شي

کلیمه د سړي برش د شین زمري کړي

لړو[۱] بر ورته د ګډو خپور لښکر شي

کلیمه لکه بوټه چې د اکسیر وي

مس ځوانان چې ترې نه وځي نو سره زر شي

ننګیالي په جهان پټي را تلي نه شي

دوی د هرې سرخیرۍ[۲] وتلي سر شي

د هر کور انغري تود، تیاره شي ورکه

میړني ځلمي په هر لوري چې وړ شي

له تونګه[۳] د عیسی چې نمړۍ وخوري

که د خټو کوګوشتان وي په وزر شي

د مذهب د مدرسې نه هیله نشته

چې یو چېنی هم د بدر لیچور شي

---

۱- لړ = کوز

۲- سرخیرۍ = د جنګ غالي سرپړه

۳- تونګ = شکور

دغلیم د برید او چیغی[1] حاجت نشته

لاس تر کریوو چې پخپله سنګروال شي

د کور، قام بدخورمنځی[2] په ځان ناتار دی

په تیغه که با تور ان وي تش پیخال[3] شي

تانک د کمتی، د یرغل یې د لاس وځي

چې د چار اتلونکي توري نه اتال[4] شي

ځلمي وار په خپل اصل دي لاله ونه

د روزلو چې څوک نه وي کوتی لال شي

ځما تونه، مدرسې او چینې د پرشول

خوله چاهغه بانګونه د بلال رض شي

چې د خاورو له کالبوته

او ده «زه یم» برسیرن شي

په اجل پاندې جل را شي

بنیادم ولاړ شي تلن شي

---

۱- چغه = اپه، ۲- بدخورمنځی = بې اتفاقي - ار وپیچ، ۳- پیخال = د باتورغل - غرباره، ٤- اتال = په طمع - په اسره - معطل - ایسار.

د ژوندون د غور ځنګونو لوی میدان دی

چا ته پوله نه سپوږمۍ او نه آسمان دی

د فطرت غیږه پرانستې ده هر چا ته

بود د هر چا هم په قدر د خپل توان دی

دا په تا ده جوړوې کاڼې که توره

خپور چاپېره د جنګړې واړه سامان دی

نیمګړتیا کړمې ټولې اړ په مټ دي

مټ کول د بنیادمو پوره په ځان دی

چې یې زده د سورکو وینو کښېدې دي

د هوښې ډانګه کمې پدې جهان دی

د باتورلمڅي دنیا ده بېله بېله

یو د ځوړې، بل د لوړې وږی[1] شان دی

چې سرمزی د نوښت[2] یې په لاس درکړ

د لوی برید په ننداره دی اوس یزدان دی

۱- وږی شان، وږی انوونکی، ۲- نوښت، پیلات- ابتکار

چې د "زه یم" تول رنګونه

یکمانه شي یکرنګ شي

لکه غوندې چې چرې شي

اباسین شي په غورځنګ شي

○

سل بخونه یې چې یو مخ شي

"زه یم" هله خان دوران شي

کائنات کړې د پښو لاندې

سلاکاره د یزدان شي

○

چې یې "زه یم" په تنه کې

لکه بُت سلګون سرې وي

آدم زې شي سل لاریزې

له یو دره سل درې وي

○

د توریال زړې ږاخېژي په سوسرکې
د هوډې هڅې و باسې لارې غرکې
توربرېښنونه یې پخپله غماز کرشي
میړه کله پټېدې شي په لښکرکې
"ستورونا"[1] کړنې د ځمکې کړله ماته
ښځوي بیرغ د ستورو خپل دوترکې
مرجونا د نهنګانو له کاله نه
ملغلرې ږاپنه کړېدې ښادرکې
ږهري خوږه په یوماري ورپیوځي
بله ماره یې نیولې وي نظرکې
مړدکي، دارو، بټک او اوربشینه
دغه توکي د میړونو وي سنګرکې
هره ونه خپله میوه نیسي
چاموندلې دې کروسکي په کیکرکې

---

۱- ستورونا = (یو ډول مرجونا) د ستورو ښکاري

زړدار هغه کور کښان دي
چې څروندي بنیادمان خوري
سړیخور په پټه یې نه خوري
سبه برسېر یې په میدان خوري
د بې پرسه کلو خلک
څه مُلا، څه دوتریان خوري
یو وَری یې په شا پروت وي
بل شنې لښتې بارګیران خوري
د باطلو ړاجواړه ده —
په برمته یې بې کسان خوري
روایات راپاڅېدلي
په حملو حملو قرآن خوري
د آدم په بدې ورځې
کلیمان واړه خپل ځان خوري

چې په منځ د هوډ یالو ځي
لار یې خوږ کړې کړې وي

چې په څرخ باندې سوری شي
د هغو تورو لاشې وي

چې له اوره ځنې و نه ځي
نو هغه پټې اومې وي

له چیچو چې انګوڅه شي
پولادي هغه سینې وي

چې جنګړیزې ژوندانه وي
د برم دکې یې شملې وي

چې د مټ مجال یې نه وي
د هغو نا ندرې ګیلې وي

د باتورو هسې کوره
څه که یو موټی بنې وي

چې وهي د تنګسې تورې
په هغو کله تنګسې وي

چې ژړیانې یې تاو نه شي
نو هغه لیندې پړکې وي

چې وهي د تنکسي تـوري
په هغو کله تنکسي وي

سپوږمۍ، ستوري، ستور تيلږي
د مېړونو بر آمــتي وي

د سر هـنکو غـور ځنکـونه
د تاريخ زر زريـنــي وي

د اخلاص د شاهسوارانـو
منزل لوی، لـنږي توښي وي

چې منګل يې د زمرو وي
د هغو مارې سـنکې وي

په راسمنو باندې غــرونه
د مالوچو پاغوندي وي

پرناورې سـنکر بايلي
ويښې ستر کې پليتي وي

دو رنګ تښتي کُن پرځانه
چې د بدر تږيسي وي

د مېړونو لوی لاسونه
خپله توري او بلـي وي

د ګيدړو په نصيب کې
د زمرو پاتي درنکي وي

Reserved -1-

چې یې پښې وي غزولې
د هغو به آخې سپېرې وي
چې له ژوندو ماتې وخوري
زور یې ټول په موسلي وي
د مړشواکو مسئلو کې
هم د مړو مړینې کیسې وي
کوښې هم ځان سره کوږ کړي
چې یې خپلې پښې کړې وي
دیوړوغ د سیالۍ نه وي
د ړندو که پړکنې وي

○

قام ډلې ډلې تورو تور بربېښ کړي
دغه کمال د اولسواکۍ[1] دی

هر ډليت خپلې ډلې ته سنه والي
دغه دستور د ډله بازۍ دی

پلويان راوړي، ناحق به حق کړي
"قامي[2] جرګه" کې سوال د ليړۍ دی

چې "جرګه‌غړي[3]" ټول شته‌منان وي
واړه هيواد دی وېنډه ونډه دی

کاواکه دروغي واکمني ډلې
څوک يې د مخې د کاواکۍ دی

د "سلاغونډه[4]" سپېڅلې لار ده
ولې هله چې د حق په تار ده

---

١- اولسواکي = ديموکراسي.

٢- قامي جرګه = پارليمان.

٣- جرګه‌غړي = ممبران.

٤- سلاغونډه = د شورئ غونډه.

ولي هغه چې د حق په سر يې ننګ دی
واړه شړونه يې دکتاب په رنګ کې رنګ دی
چيلي ناوښکي په سمڅو، په لغمونو
بمبل توره د باطل سره په جنګ دی
د جهان په "دنګ قامتو" سراوښکلي
سالاري يې په نړۍ پورې قلنګ دی
هم د علم په دنيا يې بيرغ جګ دی
هم چاپېره يې د سينه سرېتوب ډنګ دی
هم يې کټه، هم يې مخ ملازی ورکړه
خپل پردي يې په نماځنه باندې زنګ دی
د زيارت خوږ دوته ناسته بې کتابه!
ستا کوربلاری ولايت د پلې لنګ دی

منکران په دليلونو منکران دي
او ملا د بې دليل مذهب امام دی
روښانه خياله نه کافر دی، نه منونکی
د تسپو سره ګرځوان يې له ناکام دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه څرنګ به د بل کاسه کړي دکه
چې يې خم ټچيله وچ او نسکور جام دی

پوهګړي توري تږه هيري، څي په دده
چې ملا ورشکاره کړي کوم اسلام دی

ليشتکی له ليشتکی مفکوري زېږي
ځان وګوره په جهان دي څومره سام دی

مذهبونه په کړي د نيستمانو
د شته منو د خوندي[1] کتو سمام[2] دی

خدای څروندی مال يې ميرات دی
څه بې کچه ناروا دي

دي د ټولو چې د خدای دي
نه زما دي او نه ستا دي

داد الله د دوران سر دی
دوتريان چې په کړ با دي

د هغو لپچې تاوېږي
له پېروونه چې په غلا دي

له زما، له زمايی نه
پساتونه په دنيا دي

---

۱- خوندی = په امن- Safe، ۲- سمام = بند بنا

چې لېسين ترېلاس نيوکړي
شاه مېرونه د الله دي
امانت د اوليا دي
چې له تا ځني سوا دي

چې د حق او د باطل دغره راشي
د بې لارې پلار نيکه په لاره مه شي
چې توره[1] يې د بتانو لېرول وي
خداى دې وګوماري ته هغه مېړه شي
چې يې غل غدو له ويرې بلوسته کړي
په مور چلو دقام ويښ هغه ليمه شي
چې مرشد واکي ولسونه پرې رغېږي
که يې سل ځله توکې، هغه تارخه شي
څه زرغني زرغني کوې چاقهرمان ته
که ملا و تړې، هغه توريال به ته شې
غرونه غرونه واورې هله به شي ويلي
چې د نمرېشان پرې سورې ايشېدلي شي
چې يوه پلار ګني ومانځي اولس ټول
تربه هم د اولسياسو په وله[2] شي

۱- توره = دستور، قانون ، ۲- په وله = په دوډۍ - پښه ورځ

چې راشپېل دې په راشه د آسمان ښخ کړ
بیا به هله د سرې په نوم باله شي

چې د کړاو تندې خولې خولې شول
د قام جوش بیا پلوشې شولې
د سربښندنې کرامت وکوره
د ازغو غېږې ګلورېنې شولې
د پلار غېږه دې کائنات دې واره
کاش چې دې تورې بیا پلرېنې شولې
باتورزي خپله به را وزېږوي
که د پروکې دې مابښې[1] شولې
غواوراغه یې شېخ ملي ونیول
چې د زمري ستوګې تندرېنې شولې
د تورانې لېونې کوږکې سره
څانګې غړانګې سندرېنې شولې
چې بیا په رحل دې کتاب وخاته
ذرې بې ارزه دې نمرېنې شولې

---

۱- مابڼ = یوغر

کلیمي لره شروندي زړونه پکار دي
او وله لوټي په پنډه کله پیدا کیږي

په خوږلن کي له بحرکو توغ پیدونکو
تر آسمان شړبه کوونکي او تاند پسړي

چې یې تنو د تنې وچ ، ځیلي شړوستي شي
په کښو وږو شپېونو راټو کیږي

د مذهب په کڅ خوړلو لختو لهړو
د سرسوري د قامونونه جوړیږي

هیڅ ځلمي بویه بیرغ د محمد له
دا په خوار ولیشتکو نه پورته کیږي

مړه یوکي مذهبونه
لاري نه شي رښولی

د بوزړه انقلابونه
آذر نه شي راوستلی

د شروندون او بزدي کیسو له کائنا ته به چا نول وي
له موجود ځنې پښسا به ترلوکیزي پوري تلل وي

○

چې په هغو شرعو ننګ کړي

چې پرې کسرې وې وختونو

ګویا ځان له تو زیز(۱) کړي

د کوړو نو، کفنونو

○

د باطل سره په جنګ کې

نه نیم سول شته، نه سرګشته

د خلیل ع مټ دې تود او سه

د آذر چې بُت کړه شته

○

د هند وعقیدو سنا رکې

انقلاب رابرسیرن شي

د زړو خدایا نو مخ چې

ولسات ته ګرغیږن شي

○

بتان شي د ځمکې تبی

بتکورونه رانسکور شي

چې د زړونو په ورشو کې

حق زرغونه شي، سمسور شي

○

(۱) توزیز = بندوبس

○

خلیلان چې له تولسنې
د خدایانو ورکول کړي
تولومړي د دې خدایانو
خدایي ورپوچ کول کړي

○

کلیمان د فرعونانو
پاچایي هله غوزار کړي
چې بې لاره ولسات تول
د دلیل په زور په لار کړي

○

د کلیم د درنې پرګې[1]
خلقې ورېا واره زبرګې
هم یې کتبه، هم بخښنه
هم یې مټ وي‌ا هم یې ستړګې

○

چې د وخت اړې کړي کې
بچاې تېنګ لکه د غرو
د خپل پوخ «زه یم» په مرسته
د همه پرګنو سرو

○

---

۱- پرګې = پرګنې .

اوسې تش د عقل اندېښنو سره

څې په تياره لار اوړاوړ کو سره

عقل که سقراط دی، بريالی نه شو

ګوېوی په لاس د پرشو کشالو سره

ستونځو د ژوندون له برمه پرې يستل

دل يې چې سپوږمۍ ستورې کړل پښو سره

لا تراوسه لرې له خپل ډکه يې

لاړې کله مارکس، کله روسو سره

کله په يوې کله په بله ځې

درومې دې نيلې د برپوکو سره

وينې اوښکې وچې شي لنبې کښېني

عقل چې بلد شي الله هو سره

راشه د کعبې درشله ونيسه

مل شه ای حير که کليم زو سره

آدم زی له مریئیتوب څنې آزاد کا
د "ما کانَ لِبَشَرٍ"(۱) سبق وریاد کا
چې د بل د خولو ونږم تې راخېژي
د هغو ماڼو کړکچو خوړ بنیاد کا
د آذر د بُت خانې لړولو ورستو
شړې ورانې ورځه کور د خدای آباد کا
چې صبا په غر قبدو شي کلیمه وایې
د دوران فرعونانو ته دې خدای رایاد کا
په لوخړو کلي پټ، په وینو ړوب دی
د کوچینې فکر سالار دې څه فساد کا
د مرې په ځای څښتن چې زور تېرنیسي
د عمر(رض) انصاف به غل عقوبت ساد کا

لهٔ کرېوانه د فطرت یې چې لاس وښکه
هغه قام به زر په غاړه کِند کچلول کا
لا اِلاّ چې یې توره شي د ټولني
هغې ړب به یرغلونه د منګول کا

---

(۱) (ما كانَ لبشرٍ ان يؤتيه الله الكتاب ... ثم يقول للناس كونوا عباداً لي ...)

حق باطل تورېږي تور برېښ دی تل راغلی

حق به نه وي چې باطل سره نیم سول کا

د پر قامونو نه دي غونډي او بو وړېږي

په سین غاړه له بارګیر خوشی پر زول کا

رسیدلی په خپل "زه یم" شاه میړونه

باچاهي زرغون د خاورو له کنډول کا

داکاني یوازي تېر و خلقو نه کړي

خلق اوس هم په ژوندون لو نه ښخول کا

د دي کلی خلق ټول سرپېخواره دي

په پر دو فصلونو بلوسي خپل ته شپول کا

چې څانګړي سود پسې يې شي وګړي

په ټولنه کې سوراو وپه غرغنډه وشي

د شته منو شته مني چې خمار وکړي

انقلاب د نیسمنا په را تلو شي

چې بې وس دي دوسدارود سیالي شي

دزر داره تپې دا کله پیرزو شي

دو تریان دلونګو غمونه نه خوري

له لیوه کله زره سوی د شپنګو شي

زر داري د پردو وينو لوی اغيږ دی
اغيږلي عقوبت په چاودېدو شي
الا مي د او بنستون د قل العفو ؟
دوترونه چې ورو ورو په کمېدو شي
هغه کار چې کليمانو ته اتال دی
هغه کله له مارکس اوله روسو شي

له دستور د باتورانو چې بې ډک دي
خود په جاله کې پيدا يې مښکيرک دي
چې يې ژوند د خدائ لارې په لاړوي
هغې سيال دی، هم برخېن، هم په خپل ځوک دي
د مېړونو لار د آکې آسماني لاره
مزغړوته لارې تل د دوپړک دي
له ساده ايمانه ځار يې فلسفي شه
ځښتنان چې دلروکي د بتک دي
شپنکي کوره غرضونو شهخان کړل
په برمت ارم په غوښود کنډک دي
د ننګيال واړه کارونه هلي ځلي
د نيستمنو، بې اسرو په کومک دي

تور[1] ځنګلي پرې برې راوالى نه شي

چې د بدر، د حنين توري ترملا دي

الاجي غونډې دانه راوړي يو ځاى له

شاه ځلمى له شاه ځلموکه شا په شا دي

ننګيالي د سرزړه وکې د تور سرو

ننګيالي جګې شملې داوليا دي

فرعونان يې چې په مکر کوټ ښکار کړي

نر کول يې بيا کارونه د موسىٰ دي

يو کتاب و چې امت پرې ټول راټول وو

يو کتاب دي، او لړوه[2] دوه اويا دي

هر دليت[3] د خپلې دلې د وزې[4] وايي

او اي خلق حريان، چرته رښتيا دي!

---

۱- تور ځنګلى = چې توره ځنګل لري د باطل ځواکونه.

۲- لړوه = ګوندونه- دلې.

۳- دليت = د دلې غړى.

٤- د وزى = ثنا- صفت.

○

د ژاړې[1] تنګسې کړښې کې
ژوندانه کله ځائيږي
ژوند غزيږي، او چتيږي
ژاړه خوړي او سمسوريږي
د ژاړې وجود د خير دی
چې پرې "زه يم" شيرازيږي
د وجود دنيا تاغير خوري
"زه يم" کله تاغيريږي
د خښتن په ليکه "زه يم"
خپل قامت وته رسيږي
د ژاړې ځاندره شي ړنګه
"زه يم" هر کله پائيږي

○

وله د خدای ماتې خوړلې نه شي
څوک يې ترلې پرانستلې نه شي
توره به ستا د موزيکې توره وي
د ميړه توره پخبدلې نه شي

---

۱. ژاړه = (الکه واړه ژاړه) ماده - چې زيږون ول کوي - Matter

د ګیدړ برخې دي هر چا وخوړې
د زمري برخې ځوک خوړلی نه شي

که بُت خانه د پلار نیکه ده نو هم
خلیلان غلي کښناستلی نه شي

چې یې بیرغ د الاهو پېړي
ځوک په سنګرې ورختلی نه شي

زمانه هر ځو مره که مخکې ولاړه
له کلیمانو مخکې تللی نه شي

د غیر قامونو دکټ پښې تر ناسته
تا عزت داره ځوک کښنلی نه شي

د خیګړنو[1] خاوندان چې اړ و ېېچ شي
رسوي به ځوک جاله وایه څکو درته

ځاني سود چې مدعا شي دوکړو
بیا ځوک اړوي بلارونه پردې ورته

په زنارکې تسپې وپیلې خلقو
یو مخیزې مسلمان چې لاړ شي چرته!

د خلیل نوم د ثواب دپاره اخلي
زوندانه دي پتول ناري وهي آذر ته

---

۱- خیګ ء شناز

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدای دي توان د مېړنو بات دشاځلمو کړي
چې په زړه ورکېږي دي لوی غم ته
د کلیم د پیرې خلق هم هغه دي
نیمګړتیاوې چې د خدای رسوي سر ته

بیا پېښوار د محمد (ص) په وینو جب دی
د طائف خلقو دي تیرې بیا وړولي
دا جنډې د کلیمې چې چرته رپي
دا د بدر له میدان راغلې ستنولي
د کعبې په توره کټه لوڅ کوونکو
د سرونو په باز وغاړې خلاصولي
صدقه د وینو سرو د پښتیالو ده
چې نن قام د خپلواکۍ خبرې کولي
د ممسور فصل رشه پیمانه کېږي
د تش تورکي پیمانې کله چاکولي
سمندري خیرې غوځ کا خپلې غېږکې
که او به دا الکه و ورځې ختڅولي[1]
ساقي خُم ته د شا کاسه سره ناست دی
خو که ستړکي لیونو بیا وغړولي

---

۱- ختڅولي، چې د ختڅو لهو ړکې وي.

○

پخه مه شه د توریال د مړدی توره
د منکرو لاولاړ دي سنګرونه
د ښوندی مفکورې[1] خپله دومره ځواک[2] وي
بې لښکرو کړي ړالاندې هېوادونه
انقلاب د کلیمې راغلی نه دی
چې راځي بوربوړکي انقلابونه
یو بیرغ د محمد (ص) به تل رپاند وي
نور ډخیلمی[3] دي بادوړې بیرغونه
هم پوهنګ د کلیمانو پوخ تلن دی
راژړې نوراومه او پړه رنګونه
سرچینه یې چې شي وچه، ړندوي شي
په غومبارو ان اکاو[4] اکاو سیندونه
د تاریخ په اوږدي پلنې هدیره کې
بې له شناختې[5] دي پراته ډېر اولسونه

---

۱- مفکوره = نظریه- فلسفه، ۲- ځواک = زور- قدرت،
۳- دخیلمی = ټول- سراسر، ٤- اکاو = بردم- ډک،
۵- شناختې = خازې

د هغو قامونو بڼه[1] د بڼې شي
چې لیندۍ یې د ځلو شهوتې پرې کې شي
چې یې ګډې مفکورې او هلې نه وي
د هغو د خپلوالۍ کوزې جنګړې شي
راسمني د مشرانو چې یې نه وي
بنې درنې پګړې پلرینې یې بسنۍ[2] بسنۍ شي
لا شه تورې بنیادم تشې کاټې شي
چې په برخې یې ژونده عقیدې شي
د شادو غونډې پېښې کړې د قامونو
چې یې جس د نو بنتون بسمې بسمې شي
چم په چم دی لخاوریني ډیوې ګرځه
لږ ډیوې نه عقوبت بلې ډیوې شي

کڅ شوملې[3] سره بېل بېل کړي
زمانه د ښروند شار بېل کړي
د میږ لاره یوه وي
چې څه کاندي هغه تل کړي

۱- بڼه = رنګ، ۲- سنې سنې = ریبنې ریبنې، ۳- شوملې = تروې- شلومبې.

چې په ګلزار د شهزاده[1] شي
هغه دوه ژبي ساتل کړي

په فرعون کاندي نسکوره
چې دستور د کليم خپل کړي

دره يونيم په نېزه وړي
که آسونه دېر تېښتل کړي

د ښې ورځې په تکل کښې
خلق توري هم ګالل کړي

د کالا کوتره ته ګوره
چې په نمر پسې غپل کړي

د باتورانو نوغي[2] دي خوږ کړه
درته دي پاتې تش پېغالونه

دلبه[3] مرداره څنډه وې لاس کښې
تش تپوسان پرې کوي سود[4] ونه

د چتو ښکارېږي دوګرزې نه کړي
هو ښايي ګرځي نيسي بازونه

---

۱- شهزاده = ..کیاولي دکتاب نوم، ۲- نوغي = اصل - نوغي خوړول - بېخ وړکول، ۳- دلبه = غوښنه - طمع، ٤- سود = مينه

چې پېرې اړې وي د باتورانو

نه ښکاري هغه ډنګ ښستورنه

له خدای اګاه شول او نه له ځانه

طالبان وايي کوم کتابونه؟

غرابين زنګ شه، او توري پټې

پاتې ملا دي، يا يې بانګونه

◯

وګړي کوره په غوړو وړو

نمړي له يوبل راشوکول کړي

کارونه واړه دلاس سري دي

څوک شي سکونډلی او څوک سکونډلکړي

دښته منانو د پټکان راپنډه دي

دښمنانو ونډه وېشل کړي

يو پنجوړ هم خپل نوغې نه خوري

آدم لګيا دی آدم خوړل کړي

څوک په خمڅو[1] پسي راندې شول

څوک په اوبږمکو[2] شونډوهل[3] کړي

---

۱- خمڅي = دنرو جوارو دوډۍ - خوار خواړه، ۲- اوبږمکۍ = غوړه زېړه خوراکه - شاهي خواړه، ۳- شونډوهل = لکه څاروي چې په ګیاه کې تشه خوله ووهي، ولې خوري يې نه.

د قبر ځای د لوښکر نښته

ځمکه وال ځمکې ته انعاړل کړي
دوه تو غوښو د دوزې خېژي
خالق آخر به منځ ته کېدل کړي

○

د ځمکې مخ چې په بلهوا ړئ
دا انقلاب دی، هم دا پکار دی
چې سپوراوږلی سره یو سیال کړي
هغه ریښتینی کاروان سالار دی
وارته دي شرله زرغې زرغې کړي
نن را اوچت شه هم نن دې وار دی
میره دعقل، غوښې د ښکار خوري
دعقله پلي پخپله ښکار دی
هر سړی ځانته ترخه توېږي
یو شو مار دی، نور ولس خوار دی
کلیمه وایي په شرنګ یې نه دی
یو سر او بل سر عالم بې لار دی
دننه په تن کې زړې زرغونه کا
بهر بیا کوره څه رنګ بهار دی

ژوندانه کله بېلتون کله ګډون دی

کله مل شه د ټولنې کله بېل

که دې زور د زمانې بدلولو نه وي

د دوران کوڅړې خوره او شه بدل

درناوي او سپکاوی په جسواړ دی

ستا په لاس ده که کښېني اوسې که نسل

نشه توره ګوری لار د ګټې نه ده

توریالیه! چې ژوند شولی حق مسل

ساد، هغه چې په خولو یې د تندې خوري

تیار خوړ کړی د همه ولسیا غل

دیکرنکو ګوګل پاک وي تل له ویرې

درغلان او دوړنګان وي په زلزل

ته ویله وې چې کوچې ماهیوان بارکېږ

اوس وهي به یې دایلبند شمال او ربل

حقتولنې ځنې پرته هر نظام کې

بنیادم له خپله ځایه راغورځن بېږي

د ککوړي د سړي ټوکړي د پاره

آدم زوي بل آدم وته ټيټيږي
يو شته من دی چي ټولنه کي ټولواکئ دی
نیمنان خوږه جغ شوي تل اوسيږي
د ناچارو کته باندي کتهوي باندي
د چار منو کتوي به بی اکتي پخيږي
د بي وسو دخولو په ترموخا شکو
دوسدارو ماڼی رنګ، خمي ډکيږي
د رناوي چي په موړی[1] یا په دوتروي
لولنګو به په کنجکله خود ارزيږي

بي اسري آسمان ته غړيدي غوړيدي اړي
په ظالم چي به لاکله نسکوريږي
په زوخره به يي غرونه شي ټول ویلي
په لړمون د ځمکي داسي اورختکيږي

○

بي ټولني ژوندون څه دی؟ شنه پسرلی دی
بي ټولني بنیادم څه دی؟ نه شی دی
ټولنيزه ژوند سمسور د سړي جس کا
د ټولني مدعا واړه سړي دی

---

۱- موړی = پانګه،

په تولنه رېږکي لوی قهرمان شي
بې تولنې قهرمان هم لېشتکی دی

چې تولنه دې آدام په کلیمه وي
هله وایه چې خپلواک د آدم زی دی.

د تولنې سره مل ، د ځان څارن شه
چې ستا "زه یم" د ښوندون ځانګړی شی دی

چې تولنه یې باره[1] د ارتیا[2] ناخلي
هر بنجمي خپل چاروکی هندوکی دی

کلیمه وار نړۍ یوه کورمه کړي
د یوې کورمې خوتل یوانګړی دی

دا زغوله ویښه ستر ګي را تو کیږي
د پسرلو لاره دغنو په چا په وي

د نمرود د خرخشو به څوبېږي
سرې لمبې د خلیلانو خوراکه وي

سامري د زړونو پټ غلونه را نیسي
د مړو پیت پرک هم په تپچه وي

شرق ناتاریې د وختونو نیمه خوا کړي
انقلاب چې یې په نیمه کلیمه وي

---

۱- باره = پیټنی ، ۲- ارتیا = ضرورت - نیګړتیا - کړمه .

ارکجه چې نظامونه د نړۍ دي
ولسونه خو ټه خوړ يې ارکجه وي

د شنډي تخم کرونکي عقوبت وي برخه شنډه
خېز يې څه کړي چې نه مومي ځوک يې وېږی له درست ونډه

چې د مال او شروندانه دواړه زکات شي
سرلوړي به دي هله په ولسات شي
چې نیستي د نېسمنانو نه غوځېږي
او ردي پوړي په داسي خیرخیرات شي
ولسونه په میړونو شروندي اوسي
چې میړونه په نیش لګي، خود میرات شي
شریعت چې په انډول (۱) د خپل وخت نه وي
عقیدې واړه ذکنېي لات منات شي
د شروندون پانګې په خپلي سکې (۲) کېږي
هغه ورک دی، چې پیرې یې په میرات (۳) شي
چې یې منډه نه له دین نه له ساديه
د شروندون خوابزه په داسې ولس قسات شي

---

۱- انډول = توله، ۲- سکه = سرمایه - راس المال، ۳- میرات = Grace - لږه وربخښنه.

د هغې او ښې ملامـا ته عقوبت شي
چې يې بار له خپله توانه ځني زيات شي

هر غور ځنګ[1] ته دو رنګان ورښوځي
ځان دې پوهه په دې ټکي هر سالار کړي
تا بيا ګرانه د بهر د غليم نه ده
کور غليمي په اتبار ګـونه ار کـړي
د دو رنګو[2] وي نظر په خپلو ګـټـو
کله غاړه کې تسپې کله زنـار کـړي
چې د ننګ خبره راشي کور غاري شي
تش ميدان کې به د هو زو تو د باز ار کړي
تا ته لاپې دياري وهي سوګند خوري
شا په شادې له دښمن سره روزګـار کـړي
دوه مخيزه شروند په نه شروندو ليکه[3] دی
يو مخيزه شاه ځلي يو مخيز کـار کـړي

---

۱- غور ځنګ ء تحـريک - خو ځند

۲- د و رنګ ء دو پړک - دوه ژبي - منافق

۳- ليکه ء حساب

هم خپل جس دی سرطوب خاوري ايرې کړی
د دورنگ عمر په ځان باندې ستم دی
ښښتن ټول د قدر وړ دي پيدا کړي
يو سړی د بل سړی نه په څه کم دی
تربيمار[1] د فرعونانو دود دستور وي
که ولس يې تل زغمي، نو ولس کرم دی
ستور ټليزو ته چې لاس شي رسولی
ولې سود يې په کلونو د شرم شم دی
باتوران چې د کونترو ځای له راشي
ای ويږلو! نر هر چا ودی د غه غم دی
دې ټولنو او دودونو ليشتکی کړ
کم نې لوی له کائناته بنيادم دی
په لويدیځ کې لرز له عقله ربايي ده
په ختيځ کې د هر لوري نه تورتم دی

نرمييار[2] چې د فرعون وي نرامن نه دي
نرامن هغه، چې فرعون يې ورکول کړي

---

۱- تربيمار: وهل ټرل ۲- نرمييار: د بل د وړ ته ناست.

چې بې جسه وي جابرو ته تیتیږي
چې جسمنه وي جابر را بغول کړي

چې د بل په سترګو وینې تول رانده دي
روغ هغه چې یې پخپله ځیرول کړي

نه سړي شو چې سړي یې خدایان کړل
چې سړي وي نو بتان نسکورول کړي

چې بلزونه کړي تنزري، بازوان نه دی
بازوان هغه چې تنزري بازول کړي

ننګیالي دښوند نیمګړي هم پوره کړي
او ولس په خدائی رنګ کې رنګول کړي

په ذروکې یې چې ستوري زرغون نکړل
هغې خوشې لور په لوړته تیرول کړي

ډکې ډکې جولې خلق ځي له درمن
برکت دې شه ننګیاله په رشې

ښا پیرک په تورو ښخو سرښاسي
سوړ پیا شه ختیځ رانولي پلوشې

د بازونو با توانو بدې قات کې
تپوسانو ځنې غوره دی باشې

د دروغو، د ناحقو منزل لنډ دی
ترڅو پښې راټینګوي به يې مشمشي[1]
لا ليدلی يې بور سترګی کليم نه دی
څکه کرځي فرعونان لا په نشي
دحق د وکه له خپل ځای رقولی نشي
د باطل دا شدتونه خرخشي[2]
ار ويچ چې له نقشې د کائنات وي
په بل مخ شوی د نړۍ هغه نقشې

چې د نمر ستړکه و بریښی
غرونه واوري کاندی ویلي
حق بریال پرون هم نن دی
که يې نښته ځوک په سیلي[3]
داو بو د مخ کیل نه دی
کلیمه د کانې کیلي[4]
د نښتر د سیالی نه شوې
که په خبز شوې ډېري دیلي[5]

---

۱- مشمشه = پروپاګنده، د نهوره . ۲- خرخشې = جنګونه، ۳- سیلی = ملاتړ
٤- کیلی = کرښې، ٥- دیله = یو وابنه .

بدخوګ بدونه نه وايي
خلق شوې داسې ايلې
چې رنځور باوړې[1] وکړي
پو چې شي د دارو هيلې
له پولاد اصيلي زيږي
څرې نه زيږي اصيلې
چې نښتر له برمه درومي
نه ټينګيږي په يونيلې

○

لکه کس کړي په ځان غارې
هسې قام په ځان کانې[2] کړي
د هر چا تبر له تن دی
خپلې سينې خپله پرې کړي
هر څوک قبر ځان له کني
هر څوک خپلې جنازې کړي
غليان له کوره زيږي
پلمه بازخه له پلمې کړي
هر څوک ځانته تبې[3] سرې کړي
بيا يې ځان باندې سرې کړي

---

۱- باوېړي = د ناروغي بيا تاندېدل، ۲- کانې = شنډې غاړې، ۳- تبې = د کمتې تبخې

خپل عمل بـری ښښـــن دی

خپل عمل په غاړه پـــېرې کړي

څښتن ظلم تـــېرې نه کړي

هر څوک خپله ډيوې مړې کړي

د فـرعون د کـور له درنـده[1]

کلـيان جګې نـــېزې کړي

په مسور[2] و باتورنه ړنګوي نوکې

د ټنزيو تودې وينې يې مسوروي

د ننګيال کړلي خېژي، سمسورېږي

مېړې وار او سپينځړي که سوسر[3] وي

د دوران تابيا د هغه چا دوس ده

په غـ ښتنو شړوندون چې يې نظروي

د تاريخ نتول نرزوري پړکونه سني

چې مدام د ننګيالو موټي لښکر وي

منکران به خو د حق د لارې تښتي

د هر يو لار به آخر پدې خيبر وي

---

۱- درنده = غولی، جوس.

۲- مسور = دمنوکونو رنګ - نيل پالش، ۳- سرسر = دو ټکیا کېدونکی اور.

○

علیمه لوی چیناگر دی    تل تر تله په غور څنګ
سوسرونه پرې سپرلین دي    سیمه سیمه پرې ګلرنګ

○

دکشرمشرفرق خوخود وي
څښتن لومړی دی او پسې ته یې
دیونه کچ یې په نورو بره
هغه قچیره، څواکمن مېړه یې
چې دی خویونه د هغه خپل کړل
هله په ولې یې، هله به شته یې
څکه دې غوره پخپل سراخلي
دهغه مت یې، دهغه کړه یې
دهغه مل یې، په زړه بسیل یې
له سین زرغونه بربوکینی نه یې
په سپکو کانو چې ځان دې تولې
دا له خپل ځایه لاخبر نه یې

---

۱ـ غوره ـ تورتهمت (... فلم تقتلوهم ولکن الله قتلهم ...)

○

په درست عمر کې بوټنه[1] دی نه ده کړې
دادی بازدی وهنده او دا میشکاری یې

یو قدم له خپله ځایه مخکې نه شوې
د کانې غوځکی یې ټول عمر په لاری یې

نه دی برید، نه دې ولجه، نه دی مینود څه
هسې لوټ[2] یې او ځمکې په مخ باری یې

څه که ځان په سرو مهرانو باندې نیسې
په نظر د صرافانو کټ بنـکاری یې

حج، مونځونه، تلاوت کړې روژې نیسې
ولې اوس هم زناری یې، بت ګزاری یې

لږه پښه ونیسه فکر له ځان وکړه
چې داولې له همه قامونو خواری یې

چې هم دغه مذهبونه دې امساوې
لکه ونده له کړنګونو به غوزاری یې

○

د غلیمانو په مسودونـــن
چې زنارونه و، هغه تسپې دې

---

۱- بوټنه = لومړې ښکارکول، ۲- لوټ = بې هدوکو ځاندره.

کتاب کښلی، باطله کړي
دکتاب مینځ نن هغه کیسې دي
انځور هم هغه خدائی انځور دی
ولې پرې شوي پوچ کښېدي دي
چې خلیلانو را پرنګ کولي
دامتیانو هغه کعبې دي
داچې یې نوربن دکلیمو خیژي
چې ویخ یې کوږې بې کلیمې دي
دمذهب شروتې لیندې په لاس دي
ځکه یې ویشتې تل مُوندې دي
چې حق ننګي وه ځلمې وغشې
چې بې ننګي شوه ځلمي ډُرمې دي

◯

دباتورو دورترپل ده پر
لړزه ناسته یې په ځاله
دشړوند بړدکي[1]، راځي پېتي[2]
دنصیب لیک ته اتاله
چې نېستي په هستي مارل[3] یا
څه به خلاص شي له زواله

---

۱- برد = سیالي، ۲- پېتي = ورستې، ۳- مارل = حسابول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې یې هکره کلیمه ده

ولې نه دي ټول را تــاله؟

بازداري دي خپله ستايي

په دېوال له تش پېخــاله!!

په نزې باران پسخه شــي

اوم غړن لوښې کلاله !

د بل گټې ته په طمـع !

هيڅوک نه گټي يې تالـه

خواره برسېره کا، تراخه به ورک شي

چاپېرښولنه که هرڅو ترخـه ده

تيرې به وي ترهغې څلې څلې

چې دي ديوټ باندې ډيوه څومره ده

حُجره، جُمات کې يې رېښتيا وويل

له يو مغيزنه ولسيا خپـه ده

د رابيا کې بورجل ته ځان رسوه

که لار د سرو غنو چا په چاپه ده

د صبا لاره څوک د ب کولی نه شي

منمه داوخت تکه توره شپه ده

## په سپوږمۍ کوزشه مېږنۍ وویل
## دا د برنګۍ لارې لومړۍ کړپه ده

ښه عمل «زه یم» زرغون کړي
بد عمل د «زه یم» زنګ شي
چې په «زه یم» شهسړی[1] شي
دوه جهانه یې قلنګ شي
شي تالا ترغه په «زه یم»
چې دوه مخی شي دورنګ شي
بیا د «زه یم» ژوندانه دی
چې کالبوت د خاورو رنګ شي
چې سمسور یې «زه یم» نه کړ
د وجود سره چنګ ونګ شي
مرګ یې هیڅ کولی نه شي
چې د خدای په رنګ کې رنګ شي
په خپل «زه یم» باندې ننګ دی
په ښښتن که د چا ننګ شي

---

(۱) شهسړی = سترسړی - لوی سړی.

ګنبید ه پرې ستا عمل دی
که دې "زړه یم" سرانځور دی
شوسړ هسکه دلې هوړې
چې په "زړه یم" کې سمسور دی
چې ځوانکه[1] یې شي تورکې
تش لمنی، هم مختور دی
ای د خښتې غم خوړکو!
خښته هم، خوشروند څه نور دی
دې آدم، آدم په زړه یم
بې له زړه یم د آخور دی
چې د تش نس او د نوس شي
سړی ذات پورې پیغور دی

د مېړونو تېرو تورو چوړنګ یو ړل
د اَتي په امبالې چې غوړمبېدل
د هغو شاړو بنه الـــــوزي
سرچپه چې جوړه باز ته نیغېـــدل

۱- ځوانکه: د زړي یا تخم هغه شوني تیا چې زرغونه ترې کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغو په طبلو خروونه رغښتي
چې له حق ځني ناحق ته اوړيدل
چې خوړلي سوګندونه يې د وفا وو
دار يې ينبي په اوږو وګرځيدل
د رندو کلي کې ګراني خرميږي وي
او لالونه په سوپياکو خرڅيدل
د کليم په برخه دا رنګې مړژواک وُ
چې له واکه بې واکې ته پسخيدل

د ميړونو پولادي متې سنګر وي
توربرېښونه يې شملې د قام د سروي
په پوړونو د جمات خوبونه نه کړي
يرغلونه د باطل چې يې په سر وي
د ميړونو نغرې کونډرې شريکې وي
شيخ ملې دوتريې واره يو دوتروي
مخور د ړماني هغه تومن دي
چې پرانستي يې په درستي نړۍ وروي
د ړنړم چينه به يې هم چړې تاندنه کړي
چې پخپله روستې ځبلي د نښتر وي

په نېزوکې يې دوړانګو ستورې والړشي
ننګيالي د نمر خاته ختلي نمر وي

که د ينګان لرې هر څو ستورې وزرې
لويې مارې د باتورو په ځيګر وي

چې کاسير وي په پړوني کې بربنډ وي
حيا خپله حياناکو له څادر وي

پردې بد شي د کتوي خپلې نکتولې (۱)
بدې کړوني خپلو بدو له اشر وي

د ميړونو د ښکوټ هم دغه دود دی
يا د هيړ پتول مارځ يا پتول نهر وي

○

چې يوه يې مفکوره وي
اوله دې نه په ادب وي
په سره کې کنجې (۲) لاس وي
په توده کې يک (۳) جلب وي

○

نه نوره د کائنات ده — نه د ښرونډ دستوراو لاره
چې يو خودي په (٤) ولـه وي — او د نورو برخه خواره

---

۱- نکولی = پخکري - لمده بل، ۲- کنجې لاس = خپلوکې کلک لاسونه ورکړي.
۳- يک جلب = چې آسونه يې ښنک ترځنګ روان وي، ٤- په وله = مارځ - هوسا.

د مېړونو لار(۱) لومړۍ توری وهل دي
چې نړۍ په ولکه واخلي نو ویش کړ شي

د مېړه نیکه دوتړ چې شته کول غواړي
هغې مټې بډې راکاږي او ښر شي

د قام مشر هم د قام په جامه بوّیه(۲)
چې ولس یې د شړه وي، شړیور شي

زمانه که ببر شوی اباسین شي
شاه ځلمي ورته پښې ښنجې کړي تورغر شي

چې په ننګ د لا اله وي غزا هغه
نور خو هسې خلقي خوشې ککر شي

د سینا په دونهه پنډ ټول سر ببری
دیوې دونهې ترمخه یوتبر شي

برغو(۳) پوک وهه، ډنګ ورکا نغارې له
دا خواره واره بنجخې(٤) که لښکر شي

---

۱- لار = قانون، ۲- بویه = پکار دی، ۳- برغو = ښکر - تورم،
٤- بنجخې = درې خچې (په اصل کې دوې بوټي سرغوټه وائی.

په توربرېښ چې په میدان کې جنګیالی وي
سرشیرې کې یې وتلي ننګیالي وي
په خپل کورکلي کې د پرخلق نامستو وي
حقملان په ولسات کې نومیالي وي
چې کلیم ورته بیرغ د یرغل ورکړي
که په هره غاړه مخ کړي، بریالي وي
کلیمه پښتوله، په لاس کې بمبل توره
د میړونو خو هم دغه دوه کالي وي
که لوی شي دی هغه منډه دابدالي دی
په داځه که دچا توره ابدالي وي
په سومنات دغرابین په خوله بانګ وایئ
چې په ختهکې یې ګډه بلالي رض وي

بازدارې پورې پېغور شولې بازداره
باتورزي دې قوشخانه کې تپوسان شول
په ټولنه کې رڼا پوښتي راڼغله
که وګړي ټول د سیلمۍ نه حاجیان شول

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرعوني او هاماني په زلزل کوره
پدې شخړو کې یو څوک کلیمان شول
چې ډېوې یې ستا پلرینې واخستلې
د میړې له ځایه پورته شو آتیان شول
د همت سپاره دې وبو ګڼېدل هسې
خر سپاره درته له پامه وزبکان شول
زهر یالی له خپلې ماري په شانه شو
په داغه شي په ډنګ ډنګ که ناکسان شول

ای تورانکی اوردزړه ونوله
ستا یوه کوکه ورکېدلی نه شي
تېره شلونه دا زغو که وي تل
د سترګو لاره څوک نیولی نه شي
د ګیدړانو په اور ړوکې چرې
د زمري غوړېب خطا کېدلی نه شي
چې شي لاس بري د فطرت په لارو
په هغو چرګ را پرېوتلی نه شي
د نن په ګټه چې یې سود کړېدی
د صبایي میدان ګټلی نه شي

چې له دې ځمکې پورته شوی نه دی
خبر د بل نړوي سر اوړلی نه شي
په شاه میره یې انګازه شویده
که یې بنجخي نسن لیدلی نه شي

چې د لیچو نور پیدا کړي توره دار شي
چې چنګېز یې وتړي نو هغه لار شي
چې وسلو متو سره کلیمه نه وي
که د غر پشان تومن وي تارپتار شي
له دستور د کا ئنا ته څنګ وځتي
د کندو انبار شته من قامونه خوار شي
بې وسي په دنیا لویه کوتاهي ده
چې د ښکار کولو نه وي، خپله ښکار شي
آدمزاد لویې میړانې شي کولی
چې د خېټې د غمونو نه وزګار شي
خواري بویه خو په حقې لارې بویه
خوږک کله په خولو وینو چنار شي
ته پخپل بڅرکي ولې ناویسا یې
هم بڅرکي چې خوندي کړي سور انګار شي

شنه راستي د سروي هيڅوک خيم نه خوري
که پرې تېر د خزانو نو ترېسمار شي

○

د باطل د وېرېښکي خو کلیمه ده
له نیمګړو مفکورو هیڅ نه وېرېږي
د پرقامونه به د ځمکې له مخ ورک وو
خو د ټکه سره تیغ نه وېرېږي کیږي
زېږي (1) ټول سمسور به دا ځو ختو ترمنځ کړي
تلوار ګرندو! دیګ په وار باندې تود ېږي
پلو یانو د روسو او لینن! وا ورک
دا زېږي ستا سو په وړاندې به نور هېږي
بنسټونه د شړوندون په یوه حال وي
ادا بنې مګر له وخت سره نور هېږي
ټول بدلون یا نه بدلون شړوندانه ندی
خوار هغه دی چې یولو رته ښکنزېږي

○

په شونکار دا باسین چې شوی پوره
ولې چپ یې د ماڼکي سندره نه کړه

---

۱- زېږي = زېړی.

تا ړاکړونه د خزان ړنګونه تېر شول
خو د سروي شنه جامه يې زړه نه کړه
چې رښتيا ويل د کوم وخولو توره وه
بر په دار يې له رښتيا و بله نه کړه
راغلل ډېر انقلابونه د لې هوري
ولې د رسته يو سالار کليمه نه کړه
مېړني په مېړني پسې لوګي شه
خو باطل سره توده يې سره نه کړه
تېر و تور و، تهمتونو او خوږې هم
هيڅ کچه د ښتيا لو عقيده نه کړه

چې د سر و وينو پياشي پکې ځلېږي
شاه ځلمي هم په هغو لاړو چلېږي
ړ سجدې د جماتونو په پو ړونو
د مېړه په يوه هڅه نه ارزېږي
ککرې د کليمانو وي تل هسکې
ښکر ووري ککرې ورنه نه ټيټېږي
حقملان له زماني وي پيرې عکې
خلق نور د زماني په دود تېرېږي

کلیمه دکائنات سره جنګړه دی
غل د رغل به له جنګ غالي پښاکیږي
ته دې خپله غاړه خلاصه په مړینه کا
دې ته مه ګوره چې کله صبا کیږي

○

دمیړه له مټو پا څه  دناحق جهان نسکور کا
په چینجنو روستو ګړګو  بود هیره پورې اور کا
دا خدایان د ټینګې نه دي  ولې ته سترګې د بور[1] کا
دقامونو نړۍ ځمکه  دآدم تالیزه کور کا
دا دغو ښنو تش لوټو نه  په حلقا دجسو نور کا
د څښتن په ګنبد وکې
خپلې چارې دې انځور کا

○

په تیرو تورو برغنده ځي
ننګیالي ځي په خپل منه ځي
دمیړه دخولو وږم
دسپرلو له ګرده ونه ځي

---

۱- بور = نهري.

له ښېبتنه چې هم غبن وي
هغه کار هم کله شننه ځي؟
هغه پښې پرې کړې بویه
چې د خلقو په مرکنه ځي
د تسپو خاوند ته خیردی
که ځي دار لره، لونه ځي
و سپینیزې خَتې[1] راوړه
د کلپانو آخر کنده ځي
چې په څانګه کې پخه شي
هغه څمکې له بې شنه ځي

چې له اوره لاشه موې
څه یې ویره بیا له اوره
زړې مات وړوکی کور کړي
شي همغاړې له شه کوره
په چرسو[2] به تر څو سود کړي
کائنات څنې پلن پسوره
د زړې ځای پکې ورک شي
چې ژوندون کړي جامه نوره

۱ـ خَت = کمیس - پمنۍ، ۲ـ چرسو = تنګ ځای

سرېخیره تل پاتې ږي

خیر دې نشته سرېخوره!

د فطرت په هنداره کې
له ښېښتنه ځان ته ګوره

چې ځانمن دی هغه کس دی
چې ناځانه دی ناکس دی
په سیلاب غروبه لړېږي
څه ارزښت دلې د خس دی
یو په لس، هم یو په سل دی
پیاوړې چې په جس دی
د هوسو د غزالې(۱) نه
د زمري ورتېره وس دی
په زرګونو دلو سرد(۲) له
یو بخرې داور بس دی
ګرندو پرې ږیره ګل ګړه
د مېته وکاروان پس دی

---

۱- غزاله= د هوسۍ بل

۲- سرد= یووا ښه

○

زرداران خوري مدام غوښې
د خپل قام له کرکس
په درست قام یې لګولي
له پېرو راسې ګرکس
دوی ړښمین له سره واخلي
قام له پاتې شي یکرس
روږي دوب کاندي ولس ته
بیا کوي مانځه اودس
دبې وس وندی کوونکو!
وي ترڅو به ستا سوس
د «لا ترکضوا» وخت لنډ دی
لا کوئ هوا هوس

○

چې څټکوي ظالمان شي
سینه یخه د جهان شي
چې خدایان پرمخی پرېوځي
را اوچت بنیادمان شي

چې ځانګړې دوتړ ورک شي

په توبنه لولنګران شي

کليمه هله په پښتو شي

د باطل بوږجل چې وران شي

زورداري کې ځاناځان وي

کليمه کې تول يوځان شي

○

پدې شخړو پرکښو کې

هم هغه ځلمی انځور دی

چې د تول نوغی دخيره

همه چاروکې حقطور دی

○

پورپه جسوشه بيا ګوره

چې يوتن څنګه لښکر شي

د ميړه له چارو برېښي

په تندی اخستی غوړشي

هم دغو برخېنرتيا ده

چې خرېدک پاڅي نښتر شي

له تني زوخ چې اوچت شي

لکه نمر پېرې تل سحر شي

چې ژوندی وي د ښکار ځله
تودې وينې خود شهپر شي
زمرين ګوا ښه شاه ځلمو ته
سلامي سنګر سنګر شي

ځوانان څه کړې دو رمې دي
ځکه يې غشي بې پلې دي
چې له باز چتو ته ناست دي
پيغالونه يې ولجې دي
ولسات لکه تنزري
د ښکاريانو په ښچې دي
د بل مخه يې بتوله مخه
پرکښې نه دي ترمې دي
د نمرود وسيلې وايي
له آذري عقيدې دي
چې نومري په سرود دي
د سرو تشې پيښې دي
د باتور نخښې يې نښته
لا ملخې تولې جوڅې دي

د یو شرق زغملو نه دي
دا پړي دومره اوږدي دي
پکي زه یم بوده نه شه
وجود تشي تنستي دي

○

د آدم ځانګړی، زه یم — لکه حق صمد احد دی
تن زاړه دی ولي زه یم — لم یلد ولم یولد دی

○

د هر ژړي په درون کي — د خپل ستر وجود انځوري
تیغ، تنه، ځانګي ګلونه یي — هر ګامونه په خپل لوري

○

دیکرونکه برید میرونه — نیسي نور نور سنګرونه
د فطرت خوابزه لږنه دي — که ساړه نه شي متونه
لمن څه چي، څادر خور کا — د سپرلي دپیر دي ګلونه
ته لا میشت په سرپړاوي یي — ژوند دي شخړي پړاوونه
خوني خوني ستور تلیږي — تازه نه کړه یو خونه
که تنها کوته کښیني — شي کوته به مزلونه
قدم تېز کړه، چي غږیږي — ستوره تلو کي جرسونه
یوه ورځ به درته راشي
ستورګزونه بېلکونه

چې په يو هسته پيوست شي
ذرې غونډې شي تورغر شي
ورانګه کړه شي په ورانګې
راډبره نوې نمر شي
چې حجرې غښتلې پاڅي
نو د هګۍ ځاندروسحر شي
ننګ له ننګه چې کوشير شي
هم لښکر شي، هم سنګر شي
چې سپينګير سره صف تړشي
هله الله اکبر شي
هڅې هڅې چې په ګواښ شي
نوځوځې نوی په سر شي
شهسواران چې يک ځلب شي
د برډونو(۱) لوی اختر شي
توره په توربانډې شي پورې
سترګې سترګې يو نظر شي
لارې لارې هر آسمان شي
چې همت همت وزر شي

---

(۱) برډونه = ولجې، مال، غنيمت.

د ښروند پېښې شي مخ لسوځي
چې شوګير تېره نشترشي
چې ګتل بخښل توره شي
بيا آدم جنت ته ورشي
چې دعقل سپاره وينبش شي
پوچ خدايان هله ډېر شي

○

د وجود توره زيبون دی اود «زه يم» نوښتون دی
نوښتون کړه دښروند ته نوښت «زه يم» له پاخون دی

○

يو غورځې دی اباسين دی غروند غرونه دی يو رنين دی
يو هځه دی سپرځې ده يو يرغل دی ستورتلين دی
له تش ښور لاس اوچت شوی اوس دهرغوره غوريز دی
ستا دتورې له تکوره کائنات تول سندريز دی
غره راغه دی له همته ګل لمنې ګل مخيز دی
لا دښروند غرمه ده لرې
دآخو اوس لا سورکهيز دی

کـه د ښـوند نقشونـه ږیـردي

تـه د واړه ښـوند انځـوریـې

نور ښـوندون دي همه پـلی

همـدیو تـه یـې چې شهسوریـې

واړه شوکې یویو رنګ دي

تـه لـه رنګه سپـرلـي طـوریـې

د هوسۍ پـه سترګه د ښـه

هـم باتـورکسی د بــوریـې

د ذري پـه ځانـدره نمریـې

پـه قطـره سمندرسپـوریـې

تـه پـه ځمکه کې آسمـان یـې

پـه سـرو اوبـو کې اوریـې

د لشې سـره پیـاځـه یـې

لا شـه تـوره، هـم تکوریـې

چې راغوندشې مـوتي خاوري

کـائنات شې چې ورخوریـې

د جـرو پـه ارونـګه کـــــې

لـه ظاهرلـیده څـه نـوریـې

---

۱- پیاځه: د شاتو ډک ګبین

نور کورونه په تا تنګ دي
نه همسيال د خدای د کور يې

مفکورې به د وېرې پوچ شي
د دې يو کليمې وړاندې

چې يې نن سندرې وايي
په صبا يې وايي ساندې

په ټولنو کې زرغونه — دا د نوي اوښالونه
د سرهنګو شاه ځلمو دي — د خولو وينو رنګونه
د شاه متو الامې يې — اسمانګه سنګرونه
ګنبدې يې د کړاو دي — وير سپېرلي شاليزارونه
د ناغوسترکو شوګير يې — شه علمونه، حکمتونه
په نهره د جنګ بېزيې — خوږې وګړې شوولانونه
د عقلي مبنود زشه يې — هڅوبونه، تهذيبونه

دغلې د نرګس غبن دي — پسرلي يې تا نګه راتلی شي
په ارکه چاپېريال هم — انقلاب زرغونېدی شي
عکسمته پرګنو نه — مله د لارې تولېدی شي

میږه مل که د ښمنستن دی  له ښمنستن مخکي کیدی شي
د تیروازغوله تخرګه  نوی ژوند راستر کیدی شي
د فرعون له خپله درنده
کلیمان راپاڅیدی شي

آدمزاد لا لیشتینګ دی  لا د پرلري له خپل ډک دي
که په تومنه باتوران دي  لا په چاروکي لولکۍ دي
فلسفیان یې هلکۍ فکره  لا، له زړه یې بې درکۍ دي
په دې ویرلوی کائنات کې  په یو ځمکه، نمرتاوکۍ دي
که خپلواکه د پرځان بولي  چې یې ګوري لاښل وکۍ دي
د شپانه ښاریې لا نه زړه  شرمخان د خپل کنډکۍ دي
لا یې عقل د پرکچبه دی  لا په د پرجهلونوکلکۍ دي
د سرښوره نغوتکو  په لاسونوکې لینزکۍ دي
زببینا کیان یې په جوش کې
هغه شان په امبولکۍ دي

لا په سر یې فرعونان شته  لا قارون شته، لا هامان شته
آدمزاد چې ریزکی دي  لا دوچې د پرخدایان شته
د ولاړې ځکه نه شول  چې پرې پټ شلمان شلمان شته

لا په دار مسيحا ختېږي — لا لنډ پاري مذهبيان شته
خليلان شړونې کېږي — د آذر لا لښکريان شته
هر نوښت ته کفر وايي — لا مخ مختي زناريان شته
قلمونه په اور سوځي — لا د علم غليان شته
آدمتياله لا يو خوب دی — لا د قام، خاوړې بتان شته

سړيتوب ته لوی منزل دی
لا د دوو پښو حيوان شته

وخت به راشي، آدمزی چې
له خپل ځانه آشنا کېږي
د ځښتن او د خپل زړه يم
په اړيکو چې رسېږي
وخت به راشي د حيوان چې
د سړي په پښو پاڅېږي
وخت به راشي پوچ خدايان چې
د برېږي، نسکورېږي
او د جهل کتابونه
د خندا توکي جوړېږي
وخت به راشي کائنات چې
ستر آدم ته بيا ټيټېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

د آدم په پاښېدو کې
لا د دېرو پېرو ځند دی
د دې دوو پښو څاروی ته
لا په څټ کې لوی کولند دی

ته په ټول کائنات برېږې　　خو له ځانه بې خبرېږې
ملغلره یې په زړه یم　　که سیپۍ په تن بهرېږې
په یو څاڅکي کې توپان یې　　په ذره دننه غرېږې
برېښنه که لا ک ښکارې　　چې په جسم شي نو سره زرېږې
ستا توبرۍ توره دې "زه یم"　　هم په "زه یم" ولجه کړېږې
که ورستی راغلی کاروان کې　　خو د واړه کاروان سرېږې
مینځ هستۍ ته دې پام نه دی　　د بهر هستۍ په چَرېږې
لا نیمچه آدم یې ځکه　　لا د نیم ځان روزنګرېږې
انځاره کې حق ته تلیه!
د ناحقو انځور ګرېږې

مفکورو پوچو او خوشو
کوچنی کړی آدم زړی دی
که یې ستر کتاب په لاس شي
د خښتن د برش سړی دی

الکتاب په ادم زونـــی
لا ژنبودن آخرنی دی
که هر ځومره لغونی دی
خو هر نن کې صباني دی

حق لا اوس هم ناویلی
که ویلی دنـدلی دی
فرعوني دی په خمار کې
نازېږېږي کلیمې دی
چرګ پرېوتي سیلاب زوځې
نوح پلوی بې بېړې دی
د کعبې سپایان جوت نه دی
اتیوان بیا په غدې دی
یو مذهب دکمتې نه دی
دالیندی واړه بې ژړې دی
خلق خبنتې د بتکور دی
ځکه ښځې آذرې دی
نا پوهې د هر وګـړي
په وګړي په غدې دی

مفکوري پوچي نيمګړې
بشکيلکونه، تيز ندی دی

چې خوندي دي کړه وړه شه
چې دې وبازه خوندي شه
لاس په ظلم پورته شوی
بيرته شرق په خپل تندي شه
د باتورو جسې پي بايلل
چې د چتو وهندي شه
پولې پاڅي آدم وخوري
چې د پولو ځای بندي شه
د خليج پري ته وتي
د بټانو وهندي شه
چا تونګ د اسمان وخوړ
ثوک ګلا په ګرېندي شه

شروندانه تول يوځانيز دی
که هرڅومره ګڼ رنګين دی

PROPERTY OF ACKU 7550

مخ د ټولو په یو مخه
که هر توکی بل مخیز دی

په یو بم په زیر چار وځي
دا رباب که زر تاریز دی

لاړي لاړي یو شهلاره
تل تلی، یو شهتلیز دی

ستورتلیز ستورتلیز کورکور
کائنات یو شهکوریز دی

پدې دومره هک ځاندره کې
ځمکه ناشي غوندې څیز دی

خو ځمکه زی په شوني تیاو
د همه شروند د توزیز دی

په تنزومت کیراوکره
شیش بیا واخله ویرجهان ته

چې ذره په ولکه واخلي
مټی راښکه بیا شلمان ته

ستا تقدیر څه ځمکه نه ده
لاړې وباسه آسمان ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

له بېلي درياب ته واو ره

له تنګي نه پلن دامـــان ته

غوړ کمنه په لينده کـــړه

بيا ور کښېوزه سنـخ کمان ته

له سپيرغودي د پرشوندو کـړه

لاس کړه اوبډ د نمـر روښـان ته

پوهه بوڅه څـېر کتيا له

څـېر کي راښکه ايمــان ته

په نرۍ ورخوړ يـدوکي

ګرځېدلی اوسه ځــان ته

PROPERTY OF ARIC Established

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**